بیشکه دا (زما مال شتمنی) زما د پوهی په اثر چه زما سره ده راکړل شوی دی، هغه د خدای(ج) د رسول موسی(ع) د نصیحت نه چه د زکات، صدقاتو او مالی قربانی په هکله‌ئی ورته کوله مخ واړاوه او بغاوت ئی وکړ، د هغه نصرت چه خدای (ج) ورکړی و بی قدری ئی وکړه او هغه ئی خدای(ج) ته نه بلکی خپل ځانته منسوب وګانه، لوڅکه د خدای(ج) د قهر او غضب موردو ګرځیده له مال او نعمت سره یو ځای په محکه کی ډوب او ننووت او د خدای(ج) په کتاب کی د «باغی» او سرکښی په بد نوم و نومول شو.

هو زموږ هرڅه د خدای(ج) دی د خدای(ج) نصرتونه غیبی‌دی، په‌ظاهری او موقتی ساز سامان پوری اړه نلری د هغه جهت او وخت معلوم ندی، کله چه خدای(ج) په مسلمانانو کی اخلاص، توکل، ثبات سمع او اطاعت وګوری نو په هر حال او هر ځای کی چه حتی انسان د هغه درک هم نشی کولی خپل مخلوقات د دوی سره ملګری کوی او دمرستی اصل منبع چه په خپله خدای(ج) دی، مستقیمه مرسته کوی.

د بدر لومړنی جګړه چه د حق او باطل د قواو ترمنځ پیښه شوه، مسلمانانو د جنګ لپاره پوره تیاری نه وه نیولی یو ناڅا په د قافلی د مخی د راګرځولو په نیت راوتلی وو خو په نتیجه کی د یوه قوی او مجهز لښکر سره چه شمیر ئی هم د دوی په نسبت دری چنده و مخا مخ شول - نوپداسی حالت کی ئی خپل خدای(ج) ته چیغی او ناری پیل کړی - چی قرآن کریم مورته هغه داسی تمثیلوی:

«اذ تستغیثون ربکم فاستجاب لکم انی ممدکم بالف من الملائکة مردفین».

کله چه تاسو خدای(ج) ته چیغی وهلی نو خدای(ج) هم‌ستاسو ناری اوغوښتنی ومنلی او تاسو ته ئی ډاډ درکړ، چه بیشک زه ستاسو سره په زروتنوملائکو چه یوپر بل پسی راتلونکی دی کومک کونکی یم - نوبیائی ددی لپاره چه مسلمانان پرملائکو زړونه ونه‌تړی و فرمایل:

«وما جعله الله الا بشری ولتطمئن به قلوبکم وما نصر الا من عند الله الله عزیز حکیم».

(انفال - ۱۰)

او خدای(ج) دا (د ملائکو لیږل) یواځی ستاسو لپاره زیری‌ګرځولی او د دی لپاره چه ستاسو زړونه په هغه باندی ډاډه او آرام شی - او ندی نصرت او مرسته مګر یواځی د خدای(ج) له طرفه، بیشکه خدای(ج) غالب زور ور او د حکمت خاوند ذات دی.

پدی آیت شریف سره خدای(ج) مسلمانانو ته درس ورکړ چه پخپلو وسائلو، پروګرامونو ډلو او قومونو، ځای او لوړو محیطی عواملو زړه و نه تړی د بشری قدرت په اندازه سره هرڅه تیار کړی او د خدای (ج) د ارشاداتو پوره پابند او مرستی ته ئی

امیدواروی ـ خدای (ج) د خپلو مخلصو متدینو ، فعالو او باثباته بندګانو سره بیله واسطې ځانځا په او مستقیمه مرسته کوی، دپرضعیف او تر سترګو لویدلی واحدونه ئی په لویو مغرورو او مجهز و مادی او ظاهری قوتونو بریالی کړی دی او د هغوی سیاست او سیادت ئی خپلو کمزوریو ولی با ایمانه معنوی قوتونو ته سهارلی دی ـ نومسلمان مجاهد به ځان یوازی خدای(ج) ته سپاری او پرخپل خالق، رازق او خدای (ج) توکل او تکیه کوی، خاص د هغه نه به مرسته غواړی او د ایاک نستعین ـ مفهوم او معنی چه پخپله ئی په یوه شپه او ورځ کی (۳۲) ځلی د رازاو نیاز به حالت کی په ادب او عاجزی سره تکرار وی په زړه او دماغ ئی حاضرکړی، او د هغه د تقاضا سره سم عمل پری وکړی ځکه د انسان عمل ته خدای(ج) جهت او تاثیر ورکوی ـ د بدر په غزوه کی د دښمن او یا نفره مشران د سرسړی ووژل شول، خو د دی لپاره چی مسلمانان مغروره اوهرځه په ځان ختم‌نکړی خدای(ج) و فرمایل:

«فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم وما رمیت اذ رمیت ولکن الله رمی». (انفال ـ ۱۷)

نو تاسو دوی ندی وژلی بلکه هغوی خدای(ج) وژلی دی ـ او تاویشتل (په شګو) ندی کړی کله چه د ویشتل وکول مګر خدای(ج) وویشتل.

یعنی دا دکفارو مشران د خدای(ج) د غیبی لښکرو په واسطه وژل شوی دی ترڅو د مسلمانو مجاهدینو ایمان د خدای(ج) په نصرت او کومک سره قوی او زړه یی د شک او تردید ، ویری او لړزی څخه پاک شی همدامی د رسول الله (ص) هغه یو موټی خاوری چه دمشرکانو مخ‌ته و شندلی خدای(ج)د ټولومشرکانو سترګونه ورسولی او د سترګو په موښلو اخته شول همدا واقعه د کافرانو د شکست سبب شوه ، په آیت کی د ویشتلو او نه ویشتلو دواړو نسبت رسول الله(ص) ته شوی دی د اثبات او نفی دوه متضادی معناوی په یو وخت او یو شخص ته سړی په تعجب کی غورځوی ، خو چه لږ سړی ورته ورځیر شی نو مطلب ئی دا دی چه ویشتل خو ستا په لاس دی خورسول او موثر واقع‌کول ئی د خدای(ج) کار دی.

۵۳- د مؤمنو ملګرو زیات والی لوی نعمت دی:

پدی مبارک سورت کی ذریم او ډیر مهم شي چه کله د فتحی نه د مخه او کله هم وروسته مجاهد او مسلمان ته نصیب ګرځی هغه د مومنو انسانانو د حق دائری ته راتلل ، او د حق د پلویانو څنګ ته دریدل دی ـ او رسول الله(ص) ته هم امر شوی چه کله دی ولیدل چه خلک د خدای دین ته ډلی ډلی راځی او حق ته غاړه ایږدی نو ته په هغه خوشحاله او سه او د هغه قدردانی کوه (ورایت‌الناس یدخلون فی دین الله افواجا) ددی لوی نعمت قدرّدانی هم بیله د خدای تسبیح، حمد او استغفار ـ او د دوی سره په خلاصه تندۀ او پاک نیت چال چلند بل شی نشی کیدلای، په بل څای کی خدای(ج) فرمائی : «هو الذی ایدک بنصره و با المؤمنین» خدای (ج) هغه ذات دی چه تا ته ئی پخپل نصرت او مؤمنانو سره قوت درکړ ، پدی آیت شریف کی د خدای(ج) نصرت او د مؤمنانو ملاتړ رسول الله(ص) ته یوځای د نعمت د مقام د یادولو په ترڅ کی یاد آوری شوی دی ـ هوا! د مؤمن قدر د نورو مؤمنانو سره د مینی ، وروری اوملاتړ په اندازه دی ـ هغه څوک چه ډیر مسلمانان تائید وی ملاتړ یی‌کوی اطاعت ئی‌کوی

نوربیا...

سید علام الدین «اثیر»

رهائی روان تاریخ از چنگ ناف ریخته عفریت سُرخ

انسان در دائرهٔ هستی تنها موجودیست که مورد نخستین تعریف و تمجید خالق و مخلوق قرار گرفته است ، خالق به احسن تقویم سر افرازش کرده و خود ، خویشتن را به داشتن کمالات عقلی و شعوری به اوج های غرور و خود ستائی رسانده است .

به آن هنگام که چشم و گوش ، هوش به محیط و ماحول کشود ، نهوشید که بر همه اندوخته‌های که مشاش نهفته و بالقوه دارد، کلید گشایش سرمجهولات را در اختیارنداشته ازهیختن توسن حکمت به هیجا کشف وشهود دچار هیجان گردیده و خویشرا محاط محیط دید و هید فراوان یافته ، شعله های علمی که روز تا روز ضوء آنها افزایش می یابد علت و غستن هر مستوری نه بوده است . اگر عمر هزار کند چون وصیف که شبح در تصورش می گنجاندومتلذذمیگرددازدانش ورمز کشف مجهولات بهان اندازه بهرمور و لذت مند می گردد ، انسان در سیر انفسی توانائی دریافت و شناخت آنچه هست را ندارد و در سیر آفاق که کوتاهی نظر و تیرگی های غین دغیم ممتد میدان هستی ـ فایح را مجال نخواهد داد تا روح سریابی و راز کشائی مجهولهای بشری را بمشام اش برساند،رویاه جهی باغیلتهای متنوع ترصد و متفحص است تا مرغ دل دانش پژده راز جورا از غمین اصله دانش شکار کند ، مصائب طریق راه یابی فراوان وفایق آمدن بسی دشواروشکل است ، که در کنکاشستان کنکاش خبرگان هم سواد ازسهولت موجود نیست، آنچه گفته آمد شعر آن نیست که علم و دانش در فراسوی سم الخیاط قرار دار و جمل دانش پژوه را بدان معبر صلاحیت عبور نه .

در بحر بیکران علم و دانش فرضه‌های وجود دارد که میتوان به قصد سیر و سلوک ازآن استفاده جست و سوار کشتی تجسس و تفحص گردید ، دجله از دجله ها را شکافت و در فرجام صدف از صدف های علم و دانش را شکار و مروارید مطلوب را بچنگ آورد ، علیرغم آنکه آریغ نهنگ تهدید کوب آوریست زلزال قلب کاوجو ، پسر آمدو پسر رفت و سلسله این کاروان لا ینقطع درجریان است چنان آرام و منظم که زل آن در تصور نگنجد ، گوئی که روندگان به مقام سنی ای روانه اند که اهمال لحظهٔ راخسران ابدی می پندارند، جنبندگان این سفرزاد در راحله دارنددر خود شان و مقام شان مقام همان مقدرات است که قلم ازل در سوانحش نگاشته

و در اندراج خلقت نصب داشته است ، در مساع‌های کاوشگران علوم طبیعی (علوم فلسفی که فهم آن باطبیعت اندیشه انسان مربوط بوده و آن اندیشه و پژوهش محک امتیاز خط از صواب می باشد) غروران شعبده باز کمین کرده اند تا با شعبده بازیها پژوهشگران را بفریبند ، شعبده بازان سود د هر را زیان و زیان ها را سود جلوه داده اند خوش بخت کسی،گروهی، ملتی که چشم شان را تفنن شعبده بازی‌های دنیای فانی تسخیر نکرده و از رتق و فتق آن متاثر نگردیده اند تنها کسی به گروهی و ملتی در میدان رجاف برگ برنده وسعادت را دریافت خواهند داشت که دنیا را تنها مساغ برای عبور و مخزن توشه برای سفری که در پیش دارد ، بحساب آورد ، چه آنجا آه ، فیر و ناله و ندامت دردی را علاج نخواهد کرد ، انسان که جهل تعقیبش می کند و حس کنجکاوی دانش خواهی‌اش زبانه میکشد و رج های از مجهولات در پیشاپیش وی قرار دارد ، اگر مجهول را معلوم دارد اگر مجهول را معلوم دارد تنها چیزیکه آشکار

د محمد زمان مزمل لیکنه

د استانبول تیرمحد پاتی پیغور

پوښل شوی درباری چوتره لیدل کیده چی د پوښتنی وروسته پوه شوو چی دا هماغه دربارونه دی چی انسان به هغو ته په واسطو او تکلیفو خان رسولای شو او که به چی انسان هم دغه دربارو ته راورسیدو په پوره ادب او ویره به ولاړ و، ولی نور دغه تاوده دربارونه ساړه ووځوسیلانیان هغه هم د پیسخند په دو د ددی دربار په وړاندی څو لحظی دریږی او تیریږی .

که چی لږ وړاندی لاړو واقعاً د قصرونو په ابادی کی پخوانیو ترکانو خان ښه ستړی کړی و، د یوی مانی په تل کی چینی نفیس ظروف ایښودل شوی وو چی زما ملګری د هغو په لیدو وویل که چی خبره دلته رارسیدلی دبدبه او سلطنت هم له منځه لاړ .

که چی د مابنام وخت نژدی وه د صحابه ؤ او خلفاؤ په فاتحانه میراث او اثارو ژر ژر ګرځیدو هلته سو هغه توری ولیدلی چی د دنیا لوئی لوئی امپراطوری یی ړنګی کړی وی اوس په موزیم کی د تیت همتو د نندارې نه پرته هسی موزیم ته د راتلونکو کانرانسو په مخکی زمانی څولنه کړی وی .

د ال عثمان د ژوند او دبدبی وسائل دومره پریمانه ووچی انسان یی د اوسنی مغرورمدنیت د بدانجام په برخه کی پوره باوری کاوه د موزیم په غربی برخه کی یوه تعمیر ته ولاړو چی هلته بلاطلایی او صدفی فالتو تختونه د سیلانیانو د نندارې د پاره ایښودل شوی وو، ولی د مغرورو تا جدرانو پته هم نه لږیده ماسی ملګری ته وویل بلاتختونه فالتو پراته دی راځی چی یو یاد وه (. . .) نقل کړو، زما بل ملګری پدی خبره مسک شو او پوه شو چی زمونږ روان جنګ دی خدای نکړی چی د داسی غولیدلی منزل په سرحد کی ودریږی، نوره حوصله هم نه وه. وقت هم، په پوره ییره سود مابنام

د لمانځه په خاطر دغه ساړه دربارونه او فالتو تختونه او د یوه ستړی دوران د عظمت او ذلت وسائل د خدای د یاد په خاطر هماغه غربی بی باکه سیلانیانو ته پریښودل او په چتکی یو جومات ته ننوتو .

خو هغه لاکلاتر او سه محاصره کړی وه .

د سه شنبی په ورځ د ابی ایوب انصاری(رض) مقبری اوجومات ته ولاړو چا چی په سختو شرائطو او په عادی وسائلو د ادومره لوئی لوئی و چی لیری لیری فاصلی وهلی، د اسلام د لمړی پیړی په لمړی نیمه کی بی ځن ان دلته د بیزنطین د دبدبی د برجوری کلا د محاصری او فتحی د پاره رارسولای وه .

خدای خبرچی دی مجاهد صحابی په څومره طاغوتی ککری په زمکه وهلی وی او د جبارانو څومره مغرور صفونه به بی خواره واره کړی وی ! خدای شه خبر دی چی د خدای په مینه مست ابی ایوب(رض) په د بی زنطین ددی مغرور جبار د ماتیدو په خاطر څومره جنګونه شاته کړی وی؟! حتماً هغه څه چی دازړه ور او ناکراره مجاهدین د مدینی د مؤمنو یارانو را جلاکړی و هغه ددی د یوالونو او د دیوالونو د ننه پنا اخیستو طاغوتیانو د ماتولو مجاهدانه هیله وه . خو بیا هم د زاړه روم د غوسه‌ناک حصار بقایا ؤ ته چی استانبول بی د غیږی نه نیمه وتلی و نیږدی پروت و ! داسی ښکاریده چی د غربی مدنیت د څوو څپلی استانبول،په منځګی د محاصره فاتح. د روح د خوښی په خاطر،د ابی ایوب د جومات او زیارت مناروه،د هماغه پخوانیو مجاهدینو د بلند همتی او محاصری یاد تازه ساته، او سړی پدی پوره مطمئن کیده چی د غربی مدنیت له خوا محاصره اسلام به خپله ازادی اخلی، ځکه د هغه مرقد د دیوال بهر پروت وه او د بیزنطین کلابی لاتر او سه محاصره‌کړی وه.

دوه قاری او دوه مدنیته :

استانبول چی د ترکیی هیواد اروپایی برخه ده داسیا او اروپا ترمنځ د ارتباط کړی ده چی ابنائی سره جلاکوی او دذی اوبو په سرهسک پل جوړ دی ، ما او زما ملګرو هغه فاصله چی د اسلام فاتحینو څو سوه کاله وهلی وه پرځودقیقوکی ووهله او د اروپا او اسیا په دواړو برخو مولنډ سیاحت وکړ، او پوه شوو چی د جهاد او سیاحت ترمنځ څو سوه کاله فاصله ده ! !

د نړی پدی سیمه کی دوه قاری او دوه مدنیتونه سره نښتی چی دی دواړو تاریخو د نړی پدی برخه کی سخت ټکرولـه هم کړیدی ، پوځـل هغـه لوی او حوصله ازمیونکی ټکر چی د ابی ایوب نه پیل او د فاتح محمد په دوه رکعته نفل لمونځ د اسلام د بری پـه ویاړ سرته ورسیده، د مسیحیت او یهودیت هغه انتقام چی د مجهول الهویته اتا تورک پـه لاس بی د سلطان عبـدالحمید د مدنیت ساز خلافت اوشریعت په الغاء بی استانبول د بیزنطین نوی تهذیب بی دینـه حکومت «د علمانی» تـه وسپاره .

د یوی خوا سړی ګوری چی د بیګانه و په دامکی لویدلی اتا ترک سلطان په اروپائی سیمـه کی د یو قصر نه په زور ایستلی او د پله بلی خوا بی په اسیایی برخه کی د بحر ترغاړی یـوه قصر ته تبعیـد کړی چی بالاخره په هماغه قصر کی ئی د پلرونو په میراثی مدنیت د حسرت او ځانکدن سلګی ،

پوره غبرګی کړی د بلی خوا د همدی قصر تر خوا د بل تاریخی قصر د ننه چی د سلطان لـه ځای سره دومره فاصله نلری اتا تـرک هم هلته د خپلو تورو کړو له مخی د اوږد ځانکدن میچن په سینه ګرځولی او د ملت او تاریخ د سپکو سپورو بابتی یی په شا کړی .

د مجاهد سوغات :

په همدی ورځ سازیګر د فاتح په سیمه کی د سکندر د جامع ترځنګ مو د بناغلی اربکان سره د خصوصی ملاقات وعده وه نور مؤمن خوانان هم راغلی وو د تعارف وروسته حکمتیارصاحب دافغانستان د حالاتونه بناغلی اربکان په لنډو عباراتـو خبر او پـه پای کی یی هغه ته د جهاد او هجرت د ژوند نه د عکاسی یو البم ورکړ، او پخپله یی هغه صفحه په صفحه تشریح کړ، خوکله چی اخرینی صفحی ته چی خالی وه کـوم عکس پکی نه و ورسید اربکان ته یی وویل.

امید دی چی افغانستان ازاد شی او بیاد کامیابی د ورځی عکسونه درته راولیږو ترڅو هغه ددی البم پدی سپینـه پاتی صفحه کی نصب کړی .

حکمتیار صاحب د ورسره هیئت سره په استانبول کی .

د اربکان ارزو :

د مجاهدینو او اربکان خبرو خوند ور رنګ درلود ورور اربکان پخپله خبروکی مجـاهدینو ته ددی ټینګار وکړ چی د روسانو پرضد دا دروند جهاد چی امید دی موفق شی بیا هم دا وړ جهاد دی، تاسی مجاهدین هغه لوی جهاد ته بنه متوجه اوسی هغه چی د روسـانو د وتلو نـه وروسته راځی، هلته چی د اسلام د کامیابی او ناکامی اصلی سوال مطرح کیږی هغه چی اسلام په عملی ژوند کی خلکـو ته ښودل کیږی او وړاندی کیږی .

مومن اربکان چی په سیما کی یی د ترکی مومن ملت د برم درا ژوندی کولو هڅې قاطع اوځنډمنی ښکاریـدی او ربښتیا هم کیـدای شی د همغو ترکانو نه یو ترک وی چی په کرار کرار د غربی تمدن دربجن ټغـر د ترکی بعث د ضمیر او هیواد نه ټول او بیا دا میراثی هوډ نوی او خـوان ترکی نسل ته په میراث پریږدی. ډیر عاقبت بښونکی او د ارام شخصیت خاوند و، هغه ددی خبری چی اسلام د اسارت سره کرکه لـری دا ثبوت وړاندی کړ چی روسان پردی خاطر افغانستان ته راغلی ترڅو د اسلام مخه په بخارا او ثمرقند کی و نیسی خوکه هر څو روسان ددی نه ویـره ساتی ، دا مشهور

حقیقت دی چی ویژه خپل خاوند ته نجات نشی ورکولی، اربکان زیاته کړه : څو ورځی مخکی د گورباچوف اوریکان ملاقات تیر شو هغوی د وارو حتی د جهاد په رابطه خبری کړی، څکه هغوی یو د بل نه دومره نه ویریږی لکه دواړه چی د اسلام نه ویره لری.

حکمتیار وویل د انگلیسانو سرنوشت په افغانستان کی اوس د روسانو انتظار باسی حتماً به روسان په افغانستان کی ماتی خوری بناغلی اربکان کله چی د ترک او روس تیری ماضی ته پدی رابطه اشاره کوله وویل : مونږ هم په تیر دوران کی د روسانو سره دکریمیا ایالت د والی په خو له او مکاتبه رابطه ساتله، مرکزی حکومت داد څان د پاره کسر شان ګانه چی له روسانو سره مستقیمه مکاتبه ولری، زه باور لرم چی حتماً به روسان دی اصلی حجم ته را ګرځی او ارزو لرم چی د افغانستان مجاهدین به د روسانو څخه د جزئی په بدله کی محکوم ترکستان بیرته واخلی.

استانبول هم ویاړهم پیغور :

څو ورځی پرله پسی مو د استانبول د عظمت ډک تاریخ او مدنیت په سولیدلی زړه ولید انسان هلته عجیب تناقض رانغاړی کله چی می په استانبول کی د خلکو د ژوند او ددی تاریخی ښار د پرونی مجد نه څه ولیدل او څه واوریدل کټ مټ می د «مکتوب» د اسلامی مجلی هغه عنوان سترګو ته ودریده چی لیکلی وه .

«داستانبول په کوڅوکی سړی شرمیری»

واقعاً کله چی د ایمان رڼا د انسان په زړه او ضمیرکی ځای ولری خبره همداسی ده د یوی خوا د هری کوڅی په سر اواخر کی هسکی مناری او ښکلی جوماتونه د سړی سترګو ته دریږی ، دو مره ډیر جوماتونه چی نور سړی نشی کولای و پوښتنی چی دا جومات چا جوړ کړی او هغه چا؟ دا هسکی هسکی او د معماری په ډیر دقیق طرز دریدلی مناری او جوماتونه د یوی خوا سړی د اسلام هغه پرونی تاریخ ته راستنوی چی د اروپا پدی برخه کی بی کفر او د خدای دښمنان په ګونډو کړی هغه ورځی د سړی په یاد وی چی د عثمانی خلافت په غیږکی د بالقان د جزیری هیوادونه . البانیا د یوګوسلاویا او روس څنی برخی عربی ټوله نړی تر المغرب پوری د همدی سیاسی مرکز نه اداره کیدله ، داسی فکرکوی چی استانبول د عظمتونو خاونګووه او د مسلمان نسل نه هیریدونکی ویاړ، ولی د بلی خوا د همدی تاریخی او په جوماتونو ډک ښار په کوڅو او واټونوکی د لاروی سترګی او نظر په داسی ترکی نجونو او هلکانو لویږی چی د غرب او هالیوډ په اخرین موډل بی څان سنبال کړی، سرلوڅی او څان لوڅی مست او بی پروا روان وی فکر کوی چی په استانبول کی نه د لندن یا پاریس په کومه برخه کی روان یم ، داسی پرطبیعی ډول په کوڅو او واټونوکی کی هوښیار او معتمد لاروی نشی کولای دکوڅو او سړکونو په سرد هسکو مناروویاړ د کوڅو په د ننه کی د بی حیا مد نیت په لاس کی د مسخره شو یونجونو د سپک پیغور نه جلاووینی.

نوریا...

ژباړه : محمد خلیل

بنیادی عیبونه او د هغې اصلاح

درنو لوستونکو !

دغه مضمون د مولانا ابو الاعلی المودودی(رح) پی مشاله اثر «اسلامی تحریک کا کامیابی کی شرایط» پوی برخی ژباړه ده چی د اسلامی تحریک د غړو پر بنیادی عیبونو او د هغې په سمون او اصلاح بحث کوی ، هیله من یو د اسلام د لاری داعیانو او غازیانو ته د نفس په اصلاح کی گټور ثابت شی . «اداره»

کبر او غرور : لومړی او ترټولوبدعیب چی د هری نیکۍ جړی له بیخه وباسی ، کبر ، غرور ، ځان ښه او لـوی ده دا له سره شیطانی جذبه ده چی د شیطانی کارونو لپاره موزونه ده د نیکی یو کار او عمل هم له دی سره نشی کیدای څکه چی لوی پوازی د لوی خدای (ج) لپاره مناسب ده ، په انسان کی لـوی بیلـه دروغ نـه بـل څه نه ده ، کوم سړی او یا ډله چی د دروغو په جال کی نښتی وی هغه د الله(ج) له هرډول مرستی او تائید نه بی برخی پاتی وی،څکه چی د هغه (ج) په لـوړ د خپلو بندګانو په منځ کی ترټولـو بـدشی لـوی ده ، نتیجه یی داکیږی چی پـه دی بیماری کی اخته خلک د سمی لاری له هـدایت نـه بلکل بی برخی پاتی شی ، هغه‌پرله‌پسی د بی عقلیواوګناهونو مرتکب ګرزی تردی چی په نتیجه کی له ناکامی سره مخامخ کـیږی ، د دی نتیجه دا هم کیږی چی خـدادی (ج) له خلاتو سره په سلوک او رابطه کی چی هرڅوله هغه د کـبر او لـوی اظهار کیـږی همدومره‌یی پرخلاف نفرت را ولاړیـږی ، تـردی چی د خلکو په نزدمبغوض او رټل کیږی اوددی وړنه پاتی کیږی چی اخلاق اثریی په خلکو کی پاتی شی .

د خیرکار کونکو ته دغه بیاری له څـو لارونه راځی، کم ظرفه خلکو ته دغه‌بیاری په دی لاره راځی چی‌که د دوی دینـی او اخلاق حالت د شاوخوا ټولنی په نسبت‌ترڅه اندازی ښه‌کیږی، او د قدروړڅه کارونه هم ترسره کوی‌خوکله چی اعـترافـیی د نـورو خلکو له ژبو څخه اوریدل‌کیږی نو شیطان د هغو په زړونو کی وسوسی اچول پیل‌کړی چی ته خو اوس دیر لوی سړی شوی‌یی او د شیطان په لمسون هغه خپلی خبری اوکړه وړه په خلکو پورته‌کړی ، په همدی ډول‌هغه عمل چی د نیکی پـه انګیزه او جذبه پیل شوی وی وړو وړو پـه غلطه لاره بانـدی روانیږی ، دوهمه د سرایت لارەیی دا ده چی یو څوک په نیک نیت د ځان اودخدای(ج) د مخلوق د اصلاح لپاره زیار باسی کله‌یی‌چی په شخصیت کی څـه ناڅـه بهبود راځـی او تر یوه حده د نورو خلکونه ممتاز شی او څه ناڅه یی خدمتونه هم د قدر وړشی دا دامی امور دی چی فطرتـیی د احساسولونه پرتـه نه شی پاتی کیدای او خامخاپه‌یی حس‌کوی ، د نفس یـوه ذره لمسون یا هغه په غـرور او تکبر بدلوی چی دیر وخت داسی‌صورت مخی ته راځی چی کله مخالفین د هغه‌په‌مخـکی څه خندونـه را پیدا کـوی نو هغه‌ځیلو کارناسو سند د خلکو په مخ کی‌ږدی؛ که څه هم د هغه خـبری رښتیا وی خوزده د نیکیو د ښودلونه خالی نه وی په دی کی یوه ذره بی اعتدالی هم سړی د جایز حدنه لری‌کوی او د تفاخر حدودو ته یی رسوی چی دا دیر خطرناک حـالت دی ، او چـارەیی ضروری ده پـه لانـدی ډول کـیدای شـی د دغـه مزمنی بیاری چاره وکړو .

د بندګی احساس :

هر تنظیم او هر فرد تـه پکار دی چی په دی خبره ځان پوه کړی چی څوک د زړه‌له اخلاصه د ټولنی د اصلاح لپاره قیام کوی نو په هغه کی به نه یوازی دا چی د بندګی احساس موجود وی بلکی په زړه کی بـه دا

احساس همیشه ورسره تازه او ژوندی وی چی لویی یوازی د لوی خدای (ج) د ذات لپاره مناسبه او خاصه ده ، د بنده مقام له عاجزی او احتیاج پرته بل څه نه دی ، که په چاکی کوم بنه والی موندل کیږی نو هغه د الله (ج) فضل دی ، د فخر پرځای د شکر ځای دی،په‌دی‌نعمت باندی دالله(ج) حضور ته د شکرانی پځای لا عاجزی پکار ده ، او دغه لږغوندی نیکه سرمایه هم باید د خدای (ج) په لاره کی په کارو لویږی‌ترڅو الله (ج) نورهم‌مهربانی‌وکړی او دغه‌سرمایی ته ترقی ورکړی ، نیکی‌کول او بیا په هغه مغروریدل په اصل کی هغه په بدی بدلول دی او دا د پرمختک په ځای د تنزل لاړه‌ده.

۲- د نفس سره حساب :

د بندګی له احساس وروسته چی انسان د لویی او کبر نه ساتی دوهمه لاره د نفس سره حساب دی ، څوک چی د خپل نفس سره محاسبه کوی او د خپلو بیګنو سره سره هغه خپلی سهوی او خطا وی شمیری او وینی نو هغه هیڅکله هم د ځان خوښونی‌او تکبر نه بچکار کیږی .

۳- په نبو کسانو نظر :

د دغه غلطی انګیزی د مخنیوی لپاره یوه بله لاره هم شته هغه دا ده چی انسان باید یواځی ټیټ والی ته و نه ګوری د چا نه چی هغه ځان لوړ او اوچت ګڼی ، بلکی د اخلاقو هغو او چتو رتبو ته دی هم وګوری چی د هغو په وړاندی تر اوسه ډیر ټیټ پاتی دی ، په اخلاق او روحانی درجو کی بی شمیره ټیټی درجی هم شته او لږی هم ، ترټولو بدسری هم که ټیټو درجو ته پام وکړی نو دومره ډیری ښه‌یی وینی چی په خپل ځان به فخر وکړی ، د همدی‌فخر نتیجه بیله دی نه چی سړی پخپل حال‌مطمئن و پاتې شی بل څه نه ده ، دښه والی زیار خو پریږده بلکی شیطان دا دادورکوی‌چی تراوسه ټیټو درجوته د رسیدو او نزول‌لپاره ډیر وخت دی ، دا فکر یواځی هغه‌خلک کولای شی چی د خپل پرمختګ دښمن وی د ترقی ریښتونی مدعیان تل د ټیټو درجو پرځای لوړی ای اوچتی خواته ګوری ، چی هری یوی ته د رسیدو سره سم نور لوړهم تر نظر ورځی چی د هغو په لیدلو سړی د فخرپرځای د خپلی پستی اوټیټوالی‌احساس په زړه‌کی تلوسه پیدا کوی اوهمدغه‌تلوسه‌یی د نور او چتیدو لپاره لاهڅوی ، له دی‌ټولو سره دا هم ضروری ده چی په دی معامله‌کی تنظیم تل د تیارسی په حالت کی وی ، په خپله دایره کی د کبر ، لویی ، فخر اوغرور د بچکاره کیدو څخه خبر واخلی او په وخت بی چاره وکړی ، **مګر د چاری هلی ځلی بی داسی وڼه شی چی په خپلوکی دمصنوعی انکسار او نمایشی تواضع بیماری پیدا شی د کبر له دی بدترین شکل.بل نشته چی د مصنوعی او نمایشی تواضع پرده ورباندی غورپدلی وی .**

ځان ښودنه اوریا

دوهم لوی عیب چی د خیر د جړوپه ایستلوکی له کبر نه کم نه دی هغه دادی چی سړی نیکی د ځان ښودنی او نمائش لپاره وکړی ، او مطلب یی پکی له خلکو نه د تحسین‌او شاباش اخستل وی، دا کاریواځی د خلوص څه چی د ایمان ضد دی‌ځکه‌ورته پټ شرک ویل شویدی ؛ په خدای (ج) او آخرت باندی د ایمان لازمی غوښتنه دا ده چی انسان یوازی د خدای (ج) لپاره کار وکړی او له هغه خدای (ج) نه د اجر امید وکړی د دنیا پرځای د آخرت لوری‌ته نظر وکړی .

ریا کار انسان د خلکو رضا خپل‌مقصود ګرزوی او له خلکو نه د اجر غوښتونکی‌وی او په دنیا کی دخپل عمل اجر د نامه‌شهرت، ځان ښونی ، اثر او نفوذ ، جاه او جلال په شکل لیدل غواړی ، چی معنایی دخدای(ج) مخلوق له الله (ج) سره شریک ګرزول دی او یایی د هغه سیال‌ګڼلی دی، بچکاره خبره ده چی په دی صورت کی که انسان هرڅومره د الله د دین خدمت‌وکړی هم نه‌دخدای(ج) لپاره دی او نه د هغه د دین لپاره او نه‌یی شمار د خدای (ج) په نزد په نیکوکارونو کی کیږی ، یوازی دانه دی چی دا ناپاکه او ناوړه جذبه د نتیجی پـه اعتبار عمل ضایع کوی بلکی په حقیقت کی له دی سرمښه کول ناممکن دی ، د دی جذبی فطری خاصیت دا دی چی سړی له کار نه د هغی مشهوریدو ته ډیر اندیښمن کوی ، هغه کار خوښوی‌چی ډډوروی پـه دنیا کی ووهـل شی شاباش او آفرین ورباندی وکړی، پټ‌کارچی‌له‌خدای(ج) نه پی پرته چاته پته نه وی د هغه په نـزد کار نه دی، چی په دی ډول د سړی د عمل دایره یوازی په هغوکارونوکی‌چی‌مشهوریږی محدوده پاتی کیږی چی دخپل‌مقصد حاصلولو څخه وروسته‌ئی پخپله هم له هغی سره کومه دلچسپی پاتی نه شی ، د کار پیل که څـه هم پـه ډیر خلوص شوی وی خـو د دغه بیماری په لګیدو خلوص په دی ډول‌خوری لکه‌«وچکی»چی د سړی **د ژوند قوت ختموی او خوریږی، بیا ده ته دا ممکنه نه وی چی** په پته کی به هم د خلکو تر نظره نیک پاتی شی او کار دی د فـرضیت پـه اساس ترسره کړی، بلکی هغه هرڅه د خلکو د شاباشی‌او د هغه د نمایشی قدر په تله‌تلی،په‌هرمعامله کی یوازی دی ته‌ګوری چی دنیا کوم روش خوښوی، او د داسی‌کارتصور هم ورته‌ناممکن دی چی هغه په دنیا کی د خلکو ترنظرښه‌نه وی اګر چی زړه‌یی پـه کامله ایمانـداری سره د هغه کار د کولو جوازهم ورکړی .

په ګوښـو کی ناست د الله الله وینـونکـو خلکو لپاره د دی فتی نه ګوښه کیدل‌آسانه دی، خو هغه خلک چی د ټولنی په متن

کی په اصلاحی تنظیم او عمل لاس پوری کوی ، هغوی هروخت پـه دی خطره کی مبتلاوی چی‌که به د دغی«حرق» میکروبونه د هغه په بدن کی نفوذ کوی ، په هرحال ورته د هغو کارونو کـول هم ضروری دی چی د خلکو په نظر کی عام دی او هغو ته د خلکو همفکره کولو او د هغوی د مرستی حاصلولو زیارهم ضروری دی ، هغه په دی خبره هم مجبور دی چی د خپلو کارونوراپور نشر کړی ، څه ناڅه خدمتونه یی په دی‌لاره کی وی چی ورته د خلکو مراجعه زیاته شی او د ژوبو څخه د ځان لپاره د تحسین کلمی واخلی ، هغه له مخالفتـونـو سره هم مخامخ کیږی چی د خپلی دفـاع لپاره اگرکه دزړه له‌کومی له وی له مجبـوری نـه د خپلوښو ارخولو ښکاره کـول ورتـه ضروری وی په دغو حالاتو کی داڅـه آسانه کار نه دی چی شهرت دی وی اثر او موجبه‌یی دی له وی ریا او ځـان ښکارول دی وی مگـر د هغه لپاره د کار کـولـو بیماری دونـــه لګیږی ، مقبولیت دی وی مگر د هغه مقصود تـرسره نه شی ، د خلکو شاباس او تحسین دی وی مگر د دی د حصول فکر او پروا دنه وی، د ریا د پیدا کیدلو اسباب دی ځلورو وارو خواوته لنگر اچولی وی مگر د ریا نه دی سړی خپله لمن پاکه وساتی.

د دی لپاره د ډیری ځیرنی ، ډیری توجه او ډیر زیار ضرورت دی پـه دی معامله کی لږغوندی لتی او سستی‌بدن‌ته‌دریادمکروبونو لاره خلاصوی چی په لاندی‌ډول‌یی له شرنه ځان ژغولای شو :

انفرادی کوښښ

له دی بیماری نه د بچ کیدلو لپاره‌انفرادی زیارهم په کار دی او تولنیز هم، د انفرادی کوښښ طـریقه دا ده چی سړی د څـه ناڅه د داسی نیکو اعمالو التزام وکړی چی زیات نه زیات پـه پټی سره وشی او تـل د خپل نفس‌حال اخستلو نه وروسته‌وگوری‌چی‌د هغه زیاته دلچسپی په هغو پټونیکیوکی‌محسوسیږی ... یا په هغو نیکو کی چی د عامو خلکو په نظر کی راځـی ، که چـیږی دوهم صورت وی نوسړی د سمدلاسه پوه شی چی پکی ریا اثر کړیدی او د الله(ج) په مرسته دی په پوره قوت د دغی کیفیت نه د نفس بدلولو کوښښ وکړی .

تولنیزی هلی‌ځلی :

د ریا سره تولنیزی مبارزی ، گډهانـد او ډله ایزی‌هلی‌ځلی په دی ډول دی چی‌تنظیم پخپل چاپیریال‌کی‌ریاکارانه الګیرنی‌اورحجاناتو ته هیڅری ځای ورنه کړی په خپلو کارونو کی اظهار او اعلان یـواځی پـه خپلو حقیقی ضرورتونو پوری محدود کـړ شی که چیږی په تنظیمی کارولو دشوق او نمایش لږغوندی اثر هم محسوس شی نو سمدلاسه دهغه‌ځینوی رکړی، په تنظیمی مشوروکی د هیڅ چیږي دا خبره کنایتاً او اشارتاً ونشی چی فـلانی کار ځکه کول پکار دی چی هغه د مقبولیت ذریعه ده او فلانی کار دی ځکه ونشی چی خلک دا کار نـه خـوښوی، د تنظیم داخلی چاپیریال ته داسی‌پکار دی چی دخلکوتعریف او مذمت دواړو نه ډبی پروا کارکولوذهنیت پیدا کړی او دی ذهنیت ته دی داسی وده ورنکړی چی په غندلو بی‌پروا اودل شکسته شی او له تعریف او ستاینی نه‌قوی‌اوخوښ له دی سره که چیږی ځنی افـراد په تنظیم کی داسی و موندلی شی چی پـــه هغوی کی دریابوی محسوسیږی نو د هغوی د همت‌لوړ ولوړځای‌دهغوی‌دعلاج کولونکرضروری‌دی.

بدلیتی :

دریم بنیادی عیب بدنیتی ده چی‌هیڅ قسم وربانـدی د خیر مانی نه شی جوړ یـدلای ، د خیر کار یواځی په داسی خالص نیت سره کیدای شی چی په دنیا کی نیکی خوره شی اومور د دی لپاره هلی‌ځلی کولو سرمدالله(ج) په نزد سـرلوړی و اوسـو ، پـدی نـیت کی باید خپل ذاتی یا اجتماعی غرض موجـود نه وی، دنیا وی فائده په نظرکی نه وی‌تردی پوری چی د دغی خیر مقصد لپاره بغیردځه تأویل نه خپل ځان دځه ډول‌گتی‌غوښتونکی یا هیله من نـه وی، دا شانته هره یوه طعمه نه یواځی دا چی د خدای(ج) په نزددسړی اجر ضائع کوی بلکی په دنیا کی هم‌په‌ناوړه نیت سره‌کوم صحی کار نه شی کیدلای نیت خرابی خامخا په کاز باندی اثـر آچوی‌اودکار له خرابی سره په جدوجهد کی بریالی‌کیدل هم ناممکن وی چی اصل‌مقصدئی د پدیولړی کول او د هغه پرځای ئی نیکی قائمول دی.

دلته بیا همغه‌کراو مخی ته راځی‌دکومو یادونی چی مونږ پورته کړیدی د جزوی‌نیکی لپاره د کارکولو په صورت کی دنیت‌پاکول ځه سخته خبره نـه ده له الله(ج) سره لـږ غوندی تعلق او ربتونی جذبه هم ددی‌لپاره کافی کیدای شی، لیکن دکومو خلکـو مقصد چی د تول هیواد د ژونـدانـه نظام اصلاح کول وی او د هیواد تولی چارې‌ئی د دین په بنسټونو باندی درول ځواړی ، نو د دی مقصد دحصول لپاره یواځی د افکار و تعمیر یا یواځی تبلیغ او تلقین ، یایواځی داخلاقو د اصلاح لپاره کوښښونه کفایت نه کوی، بلکی ورسره هغو تـه خامخا پکار دی چی د هیواد د سیاسی نظام مخ هم د خپل‌مقصد لوری ته په مستقیم یا غیر مستقیم ډول سره د آړولو جدوجهد وکړی، ترڅو چی اقـتدار یا په مستقیم ډول د ده په لاس کی راشی‌یاد داسی ډلی په لاس کی ورشی چی دوی تـه د هغه ملاتړ حاصل وی .

د دواړو صورتونو ځخه چی‌هر یو صورت وی د اقتدار تصور د سیاسی نظام له بدلون ځخه جـدا نـه شـی کیـدای ، اوس د ژور دریاب په منځ کی د دریدلو سره هم د لمن نه لوندولـو معامله ده چی یـو تنظیم دا کار

د زړه له کومی وکړی او بیاهم ددی تنظیم د کارکوونکو انفرادی نیتونه، او دټول تنظیم جموعی نیت، د خپل خان لپاره د اقتدار غوښتلو خیری پری نږدی دا کازله نفس سره ډیره لویه مجاهده د زړه او روح ډیره لویه تزکیه غواړی.

پدی معامله کی هم نقطه نظر پیدا کولو لپاره په ظاهره ددو همشکو شیانو جوهری فرق په ښه شان ذهن کی کینول پکار دی. دا خبره خو ښکاره ده چی په ټول ژوندانه نظام کی تبدیلی غوښتوونکی د لوړو تبدیلیو سره سره په سیاسی نظام کی هم له تبدیلی غوښتلو څخه په هیڅ ډول لاس نه شی اخستلای، او دا هم ظاهره ده چی د سیاسی نظام تبدیلی ستاسونه د دی کار غوښتونکی دی چی په خو اقدار د هغوی په لاس کی وی، او یا د هغوی د خوښی هغو خلکوته منتقل شی چی د دی تبدیلی هیڅ له من وی، لیکن دخپل خان لپاره اقتدار غوښتلو کی او د خپلو اصولو او نصب العین لپاره په اقتدار غوښتلو کی ډیر لوی فرق دی ، د اصولو اقتدار اګر چی عملاً د اصولو علمبردارانو اقتدار وی بیاهم د اصولو اقتدار غوښتل او د دی عملبردار خپل خان د پاره اقتدار غوښتل په حقیقت کی دوه جدا شیان دی چی پکی د روح او د جوهر ډیر لوی فرق دی ، د نیت بدوالی په دوهم شی کی دی نه اول کی، او مجاهده نفس چی د کوم شی لپاره ضروری ده هغه دا ده چی وړومبنی شی لپاره د سرور کولو په صورت کی هم د دوهم څیز احساس قدر یی هم په زړه کی را نه وستلی شی، د نبی اکرم ﷺ اودهغه اصحابو مثال زمونږ په مخ کی دی هغوی د جموعی نظام ژوند د بدلولو او د اسلام په اصولو قائمولو لپاره جدوجهد کړیدی ، دا څیز د سیاسی غلبی او د اقتدار غوښتونکی وه ځکه چی په پوره ډول دډین غالبول لدی نه پرته ممکن نه وه او عملاً د دی هلوځلو په نتیجه کی اقتدار د هغوی لاس ته هم راغی لیکن د دی سره سره کوم ایماندار سړی دا شک قدری هم نه شو کولای چی د هغوی د جدوجهد مقصد خپل «اقتدار» وه د خپل خان لپاره اقتدار غوښتونکو څخه د تاریخ پانی ډکی دی په تاریخ کی د هغو لټولو څه ضرورت نه دی ځکه، چی اوس هم زمونږ په مخ دنیا کی ډیر موجود دی د اقتدار لاس ته راوړونکو که عملاً دیوی واقعی په حیث سره وکتل شی نو ددوارو ډلو ترمنځ څه فرق نشته، لیکن د نیت په لحاظ سره په دوارو کی عظیم الشان فرق دی پدی فرق باندی د دوارو کردار د هلوځلو دوخت کردارهم اودکامیابی د کردار هم نه منکر کیدونکی شهادت او ګواهی ورکوی، کوم خلک چی په ربښتونی زړه داسلام د اصولو مطابق د ژوندانه نظام ټول اقتدار غواړی هغوی ته پکار دی چی فرد فرد هم دا فرق ښه و پیژنی او خپل نیت سم کړی او د هغوی تنظیم هم په جموعی ډول ددی کار کوښښ وکړی چی د خپل خان لپاره «د اقتدار» نیت په هیڅ صورت کی د دوی په چوکاټ کی ځای پیدا نه کړی .

رشک بهاران سبز

و امیدواریم روزی بـه یمن ایثار
و قربانی بهاریان قهرمان فلق تابان
«بهار ما» قلب تیره پائیز و پائیزیان
شب گرا را بیشگافـد و زغن زادهگان
سیه دل شکست خـورده و شرمسار
سرزمین شهید پرور ما را ترک نمایند.
و آنگاه !!

خورشید جهانتاب بهاران «بهار»
برکشور خونین کفنان جاویدانه
خواهـد تافت و چلچراغ فـروزان
لاله های داغدار برفرازگور رفتهگان
وفامند ما عاشقانه خواهد سوخت !!

* * *



ربښتینی اتلان

یدأب فیها قائما وقاعداً

ومن یری عن الغبار حائدا

ژباړه : څوک چې په ناسته او ولاړه د جومات پـه جوړولو لګیاوی ، له هغه چا سره هیڅکله برابر نه دی ، چې ځان له خاورو او د وړونه ساتی».

عمار(رض) چې د جومات په یوه کونج په کار بوخت و، همدا شعرونه یې په لوړ آواز ویل ، د پیغمبر اکرم (ﷺ) له یارانـو څخه یوکس داسی وانګیرله ، چې ګنې عمار په ما پورې څـه وایي ، پرې و زبرګ شو او ستغې سپورۍ یې ورتـه وکړې ، رسول الله (ﷺ) په غوسه شو وې فرمایل :

«له عمار(رض) سره څـه کار لرې ، عمار دی جنت ته بولی او ته یې دوزخ ته.! عمار(رض) ما ته د دوارو سترګو په څیر ګران دی» .

بنکاره ده چې پیغمبر اکـرم (ﷺ) تـه یو مسلمان تردومره جډه ګران وی ، دا ددی نښه ده ، چې د هغه ایمان ، د نفس لویښت ، د چـال چلن سمون او له خـدای (ج) او رسول (ﷺ) سره یې مینه تر بشپړتیا رسیدلی ، او د ازمیښت له بڼې نـه روغ او سرلوړی وتی دی ، عمار هم هدا سی و .

خدای (ج) ورته په نیکی هدایت کړی و ، او په ایمان او اعتقاد کی دومره رسیدلی و ، چې رسول الله (ﷺ) بې ایمان ستایه ، او د ملګرو ترمنځ یې بیلګه او ساری ښوده فرمایلي :

«د عمار پرپله لار شی» .

مؤرخان عمار(رض) داسی را پیژنی :

لـوړ ، دنګ سړی و ، آبی رنګه سترګی یې وی ، مزبوت او غښتلی و ، غلی و اوکم ګړیده .

اوس بـه ووینو ، چـې د دغـه دنګ ، او لـوړ ګړیدونکی اتل ، د آبی سترګو او لویی سینی د څښتن ژونـد څنګه تیر شو ، هغه اتـل چـې د خورونـو لرزوونکیی نښې یې لا تراوسه پربدن پاتی وی ، د ده د اریانوونکی تینګار او ځانګړی لویښت مسند ګنـل کیـده .

ووینو چې د رسول الله (ﷺ) صمیمی ملګری او ربښتینی مسلمان او بې ساری سرښندوی څرنګ تیرشو؟

هغه پـه ټولـو جنګونـو کی د رسول الله (ﷺ) ترڅنګ تـوره چلوله ، او پـه بدر ، احد ، خندق ، تبوک او نورو جنګونو کی یی برخه درلوده .

د رسول الله (ﷺ) تـر رحلت وروسته یی هـم له کفارو سره په جنګونو کـډون کاوه ، له ایران او روم سـره د مسلمانانو پـه جنګ کی بـه پـه لومړنی سرکی ولاړو ، عمار[رض] پر زړه وری سرتـیری چـی د توری ګوزارپی کله هم بی نښی نه لګیده او امانتکاری سربیره یو پرهیزګار او درونـد مسلمان ګڼل کیـده ، چی هیڅ رابنکون او میل نشوای کولای ، چی د خدای (ج) له لاریبی واړوی .

عمار[رض] د حضرت عمر[رض] د خلافت پروخت د هغه له خوا **د کوفی د والی**پـه توګه او **«عبدالله‌بن‌مسعود[رض]»** د کوفی د مالی مسئوول په توګه وټاکل شول .

حضرت عمر[رض] دکوف والو په نامه یولیک ولیکه ، چی د نوی والی پـه توګـه یی د هغه د تقـرر داسی زیری ورکړ :

«عمار یاسر[رض]می تاسی ته امیر او ابن مسعود[رض]می معلم او وزیـر وټاکه . دا دوه کسه د رسول الله (ﷺ) خواږه یاران او پـه بدر جنګ کی له ګـډون کوونکیو څخه دی» .

عمار[رض] په خپل منصبکی د اسلامی ښوونو لهڅی چلن کاوه ؛ خو د ده دا کـړندود (طرزعمل) پرځینو دنیـا پرستوګران پریووت نژدی و ، چـی د ده پرضد توطئه او بغاوت وکړی .

د عمار[رض] حساس او ستر منصب نه یـواځی د ده د لوبی او تکبر لامل کیده نه ، بلکی د ده پر تقوی او زهدیی زیاتوب راووست . «ابن ابی هذیل چی چـه کوفه کی د عمار[رض] له همعصرو څخه و وایی :

«عمار[رض] به پـه کوفـه کی د خپـل ولایت پر وخت با درنګ اخیستل ،،و به یی تـرل او پـه شا بـه یی کاله ته وړل» .

یوه ورځ په کوفه کی د ولایت په شپو کی ورتـه د چم ګاونډیو سړی «غوږ پو چی» ووایـه ، او پـه هغه غـوږ پـوری یی ورته ملنډی وکړی ، چی پـه «یمامه» جنګ کی د دشمن په ګوزار پری شوی و ؛ خو ده سره له دی چی د ښار د چارو واګیی پلاس کی وی ، ورته وویل :

«زما په هغه ښه غوږ پوری دی ملنډی وکړی ، ځکه همدا غـوږمی د خـدای (ج) پـه لار کی پری شوی دی» .

هو هغه خپل غوږ د یمامی جنګ په ورځو کیچی د خپـل عمر لـه خـوږو ورځـوځنـیی ګـڼله ، لـه لاسه ورکړ .

دا پیښه هغه وخت وشوه ، چی دغه لـوړډنګ ، زړه وراومیړنی‌اتل دبریښنا غوندی د «مسلیمه‌کذاب» لښکریان پرځمکه را پرځول او د توری له څوکی یی مرګ څڅیده ، هغه به چی ولیده ، چی مسلمانان غږند دی ، د سر تیریو په لیکو کی به یی چغه کړه ، او جنګ ته بهیی وهڅول ، د اسـلام لښکر به د ده پـه تودو ساند و او کوکو له ځایه پاڅید او پرغلیم به ورشنی شول .

«عبدالله‌بن‌عمر» وایی .

د یمامی جنګ پر ورځ می عمار (ﷺ) ولید،چی پر غټ‌کټ ناست دی، چغی وهی : «ای مسلمانانو! له جنت نـه تښتیء ؟ زه عمار بن یـاسر یم ، مـاتـه راستا نه شیء ...»

«دا وخت می‌ولیده ، چی د عمار[رض] غوږپری شوی دی ، او اخوا د یخوایی توپونه وهل» .

هر څوک چی د ستر پیغمبر محمد ﷺ ، دبشری

تولنی د لارښود او معلم په باب په اوړو کی څه شګه لری ، د هغه (ﷺ) د دغه شان پیروانو او یارانو په وړاندی دی ودری او ځان دی وپوښتی .

آیا له ګران پیغمبر او د بشریت له ستر لارښود پرته څوک کولای شی ، داسی غوره وګړی وروزی؟ داسی وګړی ، چی کله چی د خدای (ج) په لارکی د جنګ ډګر ته ورکوزیدل ، داسی پرمخ تلل ، لکه چی د مرګ په لټه کی وی ، نه د بری ، او چی کله په حکومت او واک ته رسیدل ، د کونډو میږی یی لوشلی او د یتیمانو ډوډۍ یی پخوله .

او چی کله به د عمار[ر] غوندی والی شو، اخلی پخلی بهیی پرخپلو اوږوؤ . او یا لکه سلمان ﷺ دخپلی رتبی او تولنیز دریځ پرخلاف به کیناستل او د کجورو له پانونه بهیی کاری،او توکری،جوړولی.

رښتیا چی د پیغمبر (ﷺ) او هغه قانون په وړاندی ، چی دوی یی وروزل ، د درناوی سرتیټول په کار دی .

په کار ده د هغه خدای (ج) په وړاندی پر څمکه د ستاینی تندی ومښل شی چی دوی یی په دغسی ښیګړو سره ممتاز او د غوره امت یعنی اسلامی امت مخکښ کړل .

«حذیفه بن یمان[ر]» چی د زړونو په «ژبه» پوه ؤ حذیفه بن یمان[ر]»چی دمرګ پربستر د ژوند وروستی شیبی تیرولی ، ورته شاوخوا ناستو مسلمانانو تری پوښتنه وکړه: «که خلکوسره اختلاف وکړ، د چالیار ونیسو ؟»

حذیفه (ﷺ) چی وروستی خبری یی پر ژبه وی ،

وویل : «د عمار[ر] له پیروی لاس وانه خلی؛ ځکه هغه چی ترڅو ژوندی وی ، هیڅکله له حق نه نه جلاکیږی» .

هو عمار[ر] هیڅکله د حق له محور نه نه جاروت ، او دادی د ژوند د ویاړمن کتاب پانی یی اړوو ، او د ستر ژوندانه غوره نښی نشانی یی څیړو ، راځئ چی د ژوند وروستی نداری ته یی ورنژدی شو .

خو له دغی په زړه پوری نداری ستړه چی د عمار (ﷺ) د سترتوب ، میړانی ، بشپړتیا ، سرښندنی ، تینګار او د مقام او فضیلت نښه ده . تر ټولو د مخه یوه بله نداره چی تردی لومړی او سریزه ګڼل کیږی تر سترګو تیره کړو .

دا پیښه په مدینی ښار کی د مسلمانانو په مشتیدو پسی جوخته چی رسول اکرم (ﷺ) او یارانو او ګرانو پلویانویی په مدینه کی د جومات او خدای د کور پرودانو لاس پوری کړ را منځته شوه .

مسلمانان خو طبعاً د جومات په جوړولو کی په خاورو او د وړوکړیدل ؛ خوزړونه یی له نور او ښادی ډک وو او شونډی یی د خدای(ج) په شکر او ستاینه لګیاوی .

ټول په ډیره خوشالی او امید په چارو بوخت وو، له لری ځایه بی تیزی راوړلی ، خټه یی جوړوله ، په منډه یی د دیوالونو پخسی او چتولی ، او ځای پرځای به ډله ډله په چارو بوخت وو . کومه سنډره بهیی چی د زړه له کومی په لوړ آواز ویله ، پهفضا کی یی انګازی کولی :

لئن قعدنا والنبی (ﷺ) یعمل
لذاك منا العمل المضلل

ژباړه : که موږ کینو او پیغمبر (ﷺ) کار وکړی ، بدکار به موکړی وی .

دا شعر بهیی پرله پسی تکراراوه او زمزمه کاوه ، بیا بهیی په بل آهنګ غږ پورته کړ :

اللهم ان العیش عیش الاخرة
فارحم الانصار والمهاجرة

ژباړه : «خدایه! ریښتینی ژوند، خو د اخرت ژوندی دی، پر انصارو او مهاجرو ورحمیږی».

بیا به د دریم غږ راپورته شو :

لا یستوی من یعمر المساجدا
یدأب فیها قائما و قاعداً
ومن یری عن الغبار حائدا

ژباړه : «څوک چې په ناسته پاولاړه د جومات په ورانولو کې برخه واخلی له هغه چا سره هیڅکله برابر نه دی ، چې ځان له خاورو او دوړونه ساتی».

هغوی ټول د خدای (ج) بناغلی بندګان او د خدای (ج) د لاری زړه ورسره تیری وو ، چې د خدای بیرغ یې پراوړو و ، او د خدای کورپې جوړاوه ، پیغمبر اکرم (ﷺ) هم له مسلمانانو سره اوږه پر اوږه کار کاوه ، او هغه درنی تیږی او درونده کار به یې پخپله او چتاوه .

د مسلمانانو د پاروونکی سرو د غږ د هغوی د ژوری خوشالی ښکارندوی و ، داسی یو پاروونکی نندارہ یې جوړه کړی وه ، تابه ویل چې ګنی ځمکه د ډیرو نیکمرغو اخترانو شاهده او اسمان د ځمکې پردی حال چې داسی نندارې یې لرلی، رخه کوکه .

عمار (رضی الله عنه) د خلکو په زوړ کی ، درنی تیږی او هغه تیږی چې پکار وه پریښودل شوی وای ، را اوچتولی ، پیغمبر (ﷺ) عمار ولید او سخت پری وویرید، ورغی او پخپل پالنده لاسې د وړی له سر او ځان نه ورته وځنډلی ، بیایې یوه شیبه د هغه پرغلی او با ایمانه صورت سترګی ورښخی کړی او ویی فرمایل :

ارمان د سمیه[3] د زوی دی، چې د ظالمانویو ټولی



د نازیانو په ولسوالی کې اسیر روسي عسکر د محاصرینو په منځ کې لیدل کیږی .

د سمیه (رض) شهیدی وضعی ، انسانی نړی ته داسی تلپاتی لویښت او پت وروبانه ، چې ځلا به یې هیڅکله تته نشی ، داسی وضع چې سمیه (رض) یې د ژوند په ټولو د وروکی د با عظمته مسلمانانو او ارځښتمنو انسانانو د مور په توګه وتاکله .

چې خپلې هڅې په کار واچوی ، او خپلې وروستی وظیفې هم ترسره کړی . هغه وړځ چې عمار[3] خپلې چاری په خوشالی او مینه ترسره کړی ، هغه وخت

احمد شاه ((وحدت)) (Vahdat)
Ahmad Shah
A. K. P. O.

شفق

مسؤول مدیر . . . محمد معروف «فروغگر»
مرستیال . . . . . .
لیکوال غړی :
۱ - محمد زبیر «شفیقی» . . . . . .
ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان ۲ - ذبیح الله «قریشی» . . . . . .
کمیسیون ارشاد فرهنگ ۳ - محمد رحیم «خنجر» . . . . .

جلد سوم | شماره نهم | حمل ۱۳۶۵

د دی ګڼې مطالب :

۱ـ ژغورنده نهضت ...
۲ـ پیغام شفق ....
۳ـ د خاطرو نهضت .....
٤ـ سیاسی تبصره ...
٥ـ در بهار آواره‌گان ....
٦ـ بازتاب تعهد و هدفمندی ....
۷ـ د یوه مجاهد او مبارز مسلمان .
۸ـ رهائی روان تاریخ...
۹ـ د ترکیی سفرنامه ....
۱۰ـ بنیادی عیبونه او د هغی اصلاح
۱۱ـ ریښتینی اتلان
۱۲ـ د اسلامی نړی پراخ شتون ...
۱۳ـ بررسی یی پیرامون مسأله...
۱٤ـ پایه های اخلاقی نهضت . . .
۱٥ـ مروری برجنگهای صلیبی ...
۱٦ـ روسها از اسلام ...
۱۷ـ سنگر او اتلان . . .

PROPERTY OF ACKU

ژغورنده نهضت

هغه وخت چی د «پانی پت»او «سومنات» سومنو په تاتوبی نړیوالواستکباری ځواکونو د حرص او تمی سترګی خښی کړی وی،... همه شیبی چی د شیطان ټولی د شیطان په قوماندہ د خدای(ج) د بندګانو په بی‌لاری ټولو کی خپلی ټولی وسیلی په کار اچولی وی ... او هغه وخت چی نړیوال کفر د سید جمال الدین وطنوال د دغه ستر میړه له فکر ، عقیدی، مبارزاتی کړنی او تګلوری نه د پردی کولو په هڅو اوهاند لګیاؤ ...

هغه لحظی چی د شرافت او نجابت، سولی او امنیت، مینی او محبت ، برابری اوعدالت کوتری دابلیسانو د مکارانه دسیسو په جالونو کی یوی او بلی خوا ته په حسرت ستړګی غړولی ... او هغه وخت چی زمونږ د مسلمان ملت د عقیدی او وطن بریدونه د یحیی

مسلسل ـ ۳

د بی بصیرته او شرابی اولادی د ناروا او غیر اسلامی میاشت په وجه ، د نړیوال استکبار ترسخت ګواښ لاندی راغلی وو ... د نړیوالو داکه مارانو د اتکل او انګیرنی پرخلاف د کابل له ګوګل څخه یو بل غیر او چت شو ، چی ورسره سم د افغان مؤمن ولس ټرخلیک هم بدل او د پردو او پردو پالو پرخلاف راواوښت ...، دغه رسا آواز اوارو پالونکی زوږ ، د الهی قانون د قوام او قیام لپاره د یوه ستر داعی «عبدالرحیم نیازی» په مشری د یوی کوچنی ډلګی ملکوتی نداره وه چی د خوب وړی ملت دراویښیدلو او الهی حرکت د پیل لپاره یی د کابل په پوهنتون کی پورته کړه . . .

هو ! همی خو په اول کی ډیرو د پسخند په دود ورپوری وخندل ، خو د ایمان او هدف دغه کوچنی قافله د ظلمونو او ستمونو په اغزنه جاده د منزل مقصودپه لوری، پښی لوڅی روانه شوه ، او خپل منزل ته یی دوام ورکړ .

هیڅوا هم دا تصور نه شو کولای چی دغه کوچنی ډلګی په د وخت د فارس او

پاتی په (۹) مخ کی

نه و ، چې د جنت له قضا نه یې پرغوږو لګیدونکې نداء ته په شور و شوق مثبت ځواب ووایې ؟

هو د دغه جنتي بلنې د منلو وخت را رسیدلی و؛ ځکه د نیکې بدلې بې له نیکې نوره څه وی ، په همدې توګه وه ، چې د عمار له لاسه نیزه ولویده او د روح مرغۍ یې د ستر فردوس په لوړوالوتې .

بهیې ووژنې .

دا اټکل یوځل بیاهم تکرار شو ، او هغه هغه سهال و، چې د عمار ؓ دکار ترځنګ دیوال راپریووت، ځینو ګومان کاوه ، چې عمار ؓ وردلاندې شو او مړی ، مسلمانان په دې پیښه ماتیجن شول، یوکس په منده . رسول اکرم(ﷺ) ته ورغې، چې د عمار ؓ له مرګه یې خبر کړي ، پیغمبر اکرم (ﷺ) په سره سینه و فرمایل : «عمار نه دی مړ، عمار بهظالمانو له لاسه مړی» .

خو دا د ظالمانو ډله څوک وو ؟ او چا او چیرته یې واژه؟ بس را روانې پیښې دا خبره روښانولای شې؟

عمار چې د رسول الله (ﷺ) له هراړخیزې پوهې او د وینا له ربښتینو نه خبرو ، دا اټکلیې واورید ؛ خو څه ویره او ډارېې زړه.ته ورننه نه وته : ځکه هغه چې له کاه نه مسلمان شوی و، هره شیبه د مرګ او شهادت په خوله کې و .

میاشتې او کاونه تیر شول ، رسول اکرم (ﷺ) رحلت وکړ ، د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت شپې تیرې شوې، حضرت عثمان ؓ هم خلافت ته ورسید .

هو جنت د عمار ؓ د لیدوتیږې و، د لیدو دا مینه ډیره زړه شوې وه ؛ ځکه عمار ؓ په دې لټه کې و ، مسلمانانو لا د ده پرتېرخاورې اړولې، چې سپیڅلې روح یې بیا په جنت په خپل ابدي ټاټوبي کې آرام شوی و .

د دغه ستر ميړه شهادت په صفين جنګ کې و ، چې د تاريخ پاڼې يې د اټلې شاهدې دي .

د « خالد بن وليد (رض)» او «عمار (رض)» ترمنځ چې کله لاندې پېښې شوې نو رسول الله (ﷺ) وفرمايل : « څوک چې له عمار (رض) سره دښمنې وکړي ، د خداى دښمن به وى ، څوک چې له عمار (رض) سره کينه وکړي ، خداى (ج) به پرې په غوسه شي» .

د رسول اکرم(ﷺ) د دې وينا په وراندې خالد بن وليد (رض) بيله دې بله چاره نه لرله ، چې عمار (رض) ته ورشي او عذر او بښنه تري وغواړي .

ژباړه : ج- سرفراز

د اسلامي نړۍ پنځاخ شتون اوشتمنيوته يوه کتنه

۱ : موقعيت ئې :

اسلامي نړۍ لکه چې دښمن جغرافيه پوهان وائي«بيابان دي، عايداتي منابع نه‌لري او اوسيدونکئ ترټولو وروسته پاتې دي». نده هلکي د نړۍ په مينځ کښې پرته ده . او د نړۍ ټول ګوټونه‌ئ تر تاثير لاندې دي و چې او لنده او ټول بندرونه‌ئ ورپورې تړلې دي ، مهم سيندونه پکښې بهيږي . ځمکه‌ئ ترټولو غوړه اوله خزانو ډکه ده .

د هند نيمي و چې ته د ننوتلو لاري په اسلامي نړۍ کښې دي يعنې د ملقا تنګنا په ختيځه برخه‌کې د مالېزيا او سوماترا ترمينځ او د باب المندب تنګنا په لويديزه برخه کې چې د دې دواړو لياړو په وسيله په نړيوالو بحري سفرونو واک پيدا کيدای شي اوهم د بحر متوسطي‌لاري په اسلامي نړۍ کښې دي ، په‌دې معنا چې په ختيځ کښې د سويز کانال او په لويديځ کې د جبل الطارق تنګنا سيمه بحيره خو څه وخت ټوله د مسلمانانو په واک کښې وه او اوس‌ئ هم شرق او جنوبي څنډې د مسلمانانو په لاس کښې دي توره بحيره ، مړه بحيزه او سره بحيره اوس هم که اسرائيل نه واى ټولې په اسلامي نړۍ کښې پرتې دي .

د نيل ، دجلې ، فرات ، سند ، نيجريا او نور لوى ، لوى سيندونه ټول په اسلامي نړۍ کښې بهيږي .

اسلامي نړۍ له لويديځې خوا د ۱۸ طول‌البلد څخه د افريقا له څنډو د اطلس تر غاړو پيل کيږي او له ختيځ پورې تر سينکيانګ (چينې ترکستان) او پاکستان پورې چې د طول البلد په (۹۰) درجو کښې واقع دي اوږده پرته ده چې په‌دې حساب د اسلامي نړۍ اوږد والى (۱۰۸) درجې دي .

خو پلن والى‌ئ له شمال څخه د ترکستان له ساحو چې په (۵۰) درجو عرض‌البلد کې واقع دي پيل ، او د عرض‌البلد تر (۱۰) درجو پورې چې د استواء د خط په جنوب کې واقع دي رسيږي ، د اندونيزيا جزيرې هم پکښې شاملې دي ، او افريقا د استواء د خط تر جنوبه پورې آن د صومال ترځنډو ټوله اسلامي نړۍ ده په‌دې برخه کښې‌دهغه عالم وينا کفايت کوي چې وائي :

«که ټوله نړۍ په دايروى شکل رسم شي نو مکه مکرمه بيا په خاص ډول د کعبې پاکه خونه‌ئ په مينځ کښې پرته ده» .

نوځکه ويلاى شو چې اسلامي نړۍ د جغرافيا له مخې د ټولې نړۍ مينځ لدې امله ده چې اسلامي نړۍ د موقعيت او استراتيژي له مخې د نړۍ له بل‌هرځاى‌څخه غوره‌او او چت ارزښت لري .

۲- طبيعي منابع ئې :

طبعي منابع عبارت دي له :

هغو عناصرو څخه چې د ځمکې کلک مخ او يا په بل عبارت د ځمکې پاسنى سخت پوټکى تري جوړيږي .

له هغه عناصرو څخه چې د ځمکې د مخ هغه پوښن تري جوړيږي نباتي د يا حيواني وجود ورپورې اړه لري .

او له هغو عناصرو څخه چې د اوبو او هوا د پيدايښت او کيفيت په برخه کښې نقش لري .

د ځمکې په سخت پوښ کښې :

طبعي خزانې ، خاورې ، او ژورې او به پرتې دي .

په نباتي او حيواني برخې کښې ټول نباتي کښټونه شامل دي چې په طبعي ډول را توکيدلى او يا کرل شوى دي او هم هغه حيوانات چې د ځمکې په مخ ژوند کوي .

د اوبو په برخه کښې ټول بحري ژوندي موجودات لکه ماهيان اولور شامل دي او

هم هغه مالګین معدنونه چې د سیندونو په ژورو برخو کښې پراته دی ، د هوائی برخی څخه تول هغه عناصر مراد دی چې د هوا د کیفیت په تغیر کښې رول لری . لکه حرارت ، روښنائی ، بارانونه او نور ...

پورتینو شیانونه ترهغی چې په کار نه وی اچول شوی او یا تری ګټه نه وی لیدل شوی اقتصادی منابع نشی ویلای ، لکه سکاره ، پترول ، او شمسی طاقت اوپاداسی نور ترڅو چې د استفادی او ګټې اخیستلو کیفیت ئی نه وه واضح شوی اقتصادی منابع نه ګڼل کیږی او نه ئی د طبعی خزانو په کتار کښې چانوم اخیسته نو ځکه موږ کولای شو چې طبعی منابع په لاندی برخوویشو :

۱- هغه منابع چې له مینځه نه ځی .
لکه شګی او کالکریت .

۲- هغه منابع چې هر وخت بدلیږی .
لکه د ځمکی نباتی پوښی .

۳- هغه منابع چې په اسانه توګه له مینځه ځی .
لکه پترول او نوری خزانی .

تل پاتی خزانی :

هغه عایداتی منابع چې له مینځه نه ځی په اسلامی نړی کی ئی زښته زیاته برخه شته .

د سودان لویی اوو چې دښتی ، د لیبیا ، عراق او نورو اسلامی هیوادونو پراخی لمنی. د عربی و چې نه خلاصیدونکی اوږدی اوبلنی دښتی او د نوری اسلامی نړی پراخو ځمکو اسلامی نړۍ د نه تمامیدونکی عایداتی منابعو له لوری خورا پیاوړی کړی ده .

بدلیدونکی خزانی :

په اسلامی نړی کښې هوسړه زراعتی توانائی شته چې که په ډیټینې ډول په کاروا چول شی نو هیڅ امکان نلری چې اسلامی نړی دی له غربی او یا شرق بلاک څخه اُن د یوی دانی غلی را واردولو تنه هم اړتیا ولری .

ځکه هغه اسلامی نړی چې د (نیل دجلی ، فرات او سیند ...) په شان څپانده سیندونه او حاصل ورکوونکی ښکلی ځمکی ولری چیری اوولی به چانه لاس نیسی ؟

دا فقر او بی توانائی چې اوس پکښې واکمنه ده ، په اسلامی نړی په زور تپل شوی ده .

په پاکستان ، سودان ، عراق ، لیبیا ، مصر او په عربی نړی کښې په میلیونوجریبه زراعتی ځمکی دغلو دالو راتوکولو ته وړدې. یوازی او یوازی هغه لاس ته اړتیا لری چې وائی روی ، او تخم ورواچوی .

تاریخی څیړنی ثابتوی چې د اسلامی نړی نن و چې څه سوده پخوا کرل کیدی خو د مسلمانانو د ناپوهی اولتی په نتیجه کښې د اوبو د نه رسیدلو له کبله و چې کلکی اوشاړی شوی ، نني و چې مصر دروسالیانو په دورو کښې تقریباً په سلوکی نوی برخی کرل کیده او حاصلاتی ورکول خودوختونو په تیریدلواو د کارګر لاس د لشتوالی له کبله مخ په وچیدو شو أن تردی چې نن سبا خو یوازی په سلو کښې پنځمه برخه زراعتی اوسلوکی ۹۵ برخی دښتی ، او شاړی دی ، هیڅ ګټه تری نشی اخیستل کیدای او نه څه حاصلات لری.

له مینځه تلونکی خزانی :

لکه پترول او معدنونه

پدی هکله باید لاندی معلومات په غور ولولو :

الف : په نني دنیا کښې پترول دتوانائی لومړنی او اساسی منبع ګڼل کیږی چې اسلامی نړی د ټولی دنیا (۳،۰۶) فیصده برخه تیل لری ، او په دوهمه درجه کښې د امریکا متحده آیالات تیل لرونکی هیواد دی، امریکا په سلوکښې (۲۹،۰۶) برخی تیل لری ، دا هغه برخه ده چې اوس تری کار اخیستل کیږی. او هغه چې لاتراوسه په کار ندی اچول شوی نو اسلامی نړی د ټولی دنیا (۶۹،۳) فیصده تیل لری .

پورتنی معلومات پوازی د هغو تیلو په باره کښې دی چې تراوسه ئی دکشفیدلو اعلان شوی دی ، خوکه هغه تیل چې لا تراوسه د اسلامی نړی د خاورو لاندی څپې وهی ، او امریکائی او غربی شرکتونه چې په اسلامی نړیکی دتیلو راویستلووظیفه په غاړه لری ، نه غواړی چې همدا اوس ، اوس ئی راوباسی ، او شاید د مناسب وخت په انتظار کښې وی .

نو که دا پټ تیل هم حساب شی لوویلای شو چې اسلامی نړی په د تیلو په لرلو کښې لوړی درجی ته ورسیږی .

ځواب :- لکه څرنګه می چه د پورتنی پوښتنی په ځواب کی ووویل چه ما له خپل خدای سره دا تعهد کړی ډ چه زه به دسر او مال په بدله کی د خدای‌دین ته‌خدمت‌کوم‌او د کمونستی کفر په خلاف به له هیڅ‌ډول‌سرښندنی څخه ډډه نه کوم ، هماغه تعهد زما ددی‌اقدام محرک اوقوماندان ډ، یعنی د الله په مرسته‌اودایمان په قومانده می دغه اقدام کړی، او له بل هیڅ لوری را ته‌کومه قومانده یا دستور نه دی راکړل شوی، که څه هم په لمړیووختو کی زما ارتباط له ځینی تحریکی ورونو سره ډ ، او د کمونستانو په مینځ کی داخوانی په نوم‌متهم هم وم ، خو لپاره د دی چه زما اړیکی ئی له تحریک سره شلولی وی په کال ۱۳۵۷ کی ئی زه د قندهارپه‌مجلس کی د (۱۸)ورځو لپاره بندی کړم، وروسته له هغه ئی‌دقلات(۳۴) غونډته دسرحدی سیمو د ساتنی او ډ مجاهدینو د فعالیت د مخنیوی په منظور را واستولم همدغه‌ورځی‌زمادامتحان ډیری سختی ورځی وی،ځکه چه نه می له تنظیم سره څه ارتباط قائمولی شوی او نه را سره په غونډه‌کی داسی څوک ووچه‌دومره ستر اقدام ته مو ملاترلی وای ، هغه ورونه چه له ما سره ئی په دی پلان کی برخه در لوده هم په اصطلاح په حاشیه کی ئی‌قرار در لود ، په هر حال تصمیم مو داؤ چه یا به شهادت را په برخه کیږی او یا به د خدای په لاره کی بری را به‌برخه‌کیږی،همدغه د نیت خلوص او د عمل صداقت سبب شو چه را سره موجود کمونستان مو په هماغو وسلو د جهنم کندی ته‌واستول چه د جهاد د مخ نیوی او د مجاهدینو د سر کوبو لپاره ئی را آستولی

وی، او اوس هماغه درنی اوسپکی وسلی د کفر د مخ نیوی اودکفارو د سر کو بولولپاره د حق پهسنگر کی په کار لویدلی دی .

پوښتنه :- لطفاًداهم‌را ته ووایی چه تا سو د یوه څوان قوماندان په حیث څرنګه و توانیدی چه خپل غوند له هر ډول کډوډی او توتې ، توتهکیدوځخهخوندی و ساتی ، په داسی حال کی چه په دی غوندکی له تا سو سره دسن له لحاظه مشران‌او د رتبی لهلحاظه لوړ رتبه صاحب منصبان نور هم وو ؟

ځواب :- په دی هکله باید ووایم چهلکه څرنګه چه د خاتی رژیم په خلاف زما اوزمادمخاصو وروڼو قیام د خدای د مرستی نتیجه وه همدارنګه د غوند منظم پاتی کیدل هم دخدای لهنصرت او د سر تیرو وروڼو لهمخلصانه همکاری څخه پر ته دبل‌څه‌نتیجه نه وه ، پله دا چه دتنظیم لهخوا هم په دی برخه کی له ما سره لازمه مرسته شوی ، همدغه وجه وه چې د خدای په مرسته دغه غوند له هر ډول لاس وهنی‌څخه محفوظ او مامون پاتی شو .

پوښتنه :- تا سو ته به په یاد وی چه دا سمار غوند له خپلو ټولو مهماتو او امکاناتو سره مجاهدینوته‌تسلیم شو، لیکن خپل موجودیت ئی ونشو ساتلی ایاویلی شی چه د هغه غوند تیت اوپرک کیدلو اسباب او عوامل څه وو؟

یعنی د هغه غوند له مسؤلینو څخه څه ډول غلطی و شوی چی هغه‌مضبوط‌اوله‌هره لحاظه پیاوړی غوند ئی له داسی‌بدی ورځی سره مخامخ کړ او که څنګه ددی پر خلاف ستاسو غوند له هر ډول لاس وهنی څخه خوندی‌پاتی شو؟ که ددی‌دواړوغوندونوخرنګوالی د څوملا یسوی دلائلو په لړکی روښانه کړی ډیره مهربانی به مو وی ؟

ځواب:- هو په یاد لرم چه دا سمار غوند مجاهدینو ته‌تسلیم شو فکر کوم چه ددی غوند د تیت پرک کیدلو لپاره‌به‌یوازی همدغه یوه جمله‌چه (داسمارغوند تسلیم شو) کافی وی ، تسلیمیدل عموماً د فشار نتیجه وی، اوفشار چه‌په‌هرکوم‌شی باندی واریدیږی طبعاً به انفلاق کوی اوپرخپی بهئی هری خواته الوزی، داسمار د غوند له مسؤلینو سره کومه منظمه طرحه نه وه چه د هغی‌په نتیجه کی ئی خپل موجودیت‌ساتلی وی ، بلکی له هری خوا محاصره شوی ؤ ، وروسته له ډیر مقاومت څخه مجبوراً تسلیم شو، د داسی مجبورانه تسلیمیدو حتمی نتیجه همداوی چه باید چورشی ، ولی د دی‌بیخی بر خلاف (مبارزغوند) تر هیڅ ډول محاصری او فشار لاندی نه ؤ ، زه په خپله د یوه تنظیم متعهد غړی وم ، هیڅکله می د جهاد او مجاهد پر خلاف جزئی ترین حرکت نه دی کړی، په هغه وخت کی چه لاغوند د خلقیانو په اختیار کی ؤ هم ماله مجاهدینو سره له هیڅډول‌سرستی څخه ډډه نه ده کړی ، همدغه وجه وه چه زه د خلقیانو له خوا بندی شوم ، او بله دا چه .

زمونږ غوند تسلیم شوی نه دی هیڅ یو تنظیم را باندی خبر نه و چه موڅدخپل ایمانی مسوولیت او د هغه تعهد په بنا چه له خپل خدای سره موکړی و د کمونستانو پر خلاف اقدام وکړ او د خدای په مرسته مو غوند سالم اعلی جرګی ته را و رساوه او له خپل تنظیم سره مو د اسلام د غلبی او د کفر د نا بودی په منظور پیوستون وکړ لنډه دا چه زمونږ اقدام د کوم تصادف او یا فشار نتیجه نه وه بلکی له خدای‌سره‌دتینګ تعهد او منظم پلان نتیجه وه

یعنی د غوند واک زمونږپه خپل لاس کی و او د کمونستانو په خلاف سود کمونستانو په زړه کی جهاد کړی ، کمونستان مووژلی او وروسته له دی الهی نصرت څخه مو غوند ته دا علی جرګی په لور قوماندہ ورکړی اولاتراو سه پوری د کفر پر خلاف په منظمه طریقه جهاد کوو ، زه نه پوهیږم چه تا سو څرنګه زمونږ غوند داسمار له غوندسره مقایسه کوی اویا په دی‌لړکی مقایسوی دلائل را نه غواړی ؟

پوښتنه :- تر کومه ځایه چه‌زه معلومات لرم ستاسو له راتلو سره سم د څو تنظیمونو له خوا تاسو ته داوطلبانه اوپه‌مسابقوی ډول بلنه درکړل شوه ، خو د هغو ټولو تنظیمونو له جملی څخه چه تاسو (دافغانستان اسلامی‌حزب) ته ترجیح ورکړه اوهغه مودخپل تنظیم په‌حیث‌قبول‌کړددی‌انتخاب اصلی وجه او علت څه ؤ ؟

ځواب:- فکرکوم چه داپوښتنه په پورتنیو ځوابونو کی تشریح شوی ، په دی ډول چه زمونږ ارتباط او اړیکی د افغانستان له اسلامی حزب سره نوې نه دی بلکی د تحصیل له دوران څخه زما‌المحمدی‌حزب‌سره‌تینګی‌اړیکی‌وی کله چه رب العلمین په کمونستانو باندی غلبه اوبری راکړاوغوند مو دا علی جرګی په لور را و

> **که څه هم حربی ښوونځی له فکری لحاظه محکوم ؤ هیڅ یوه زده کوونکی ته یکی دا اجازه نه ورکول کیدله چه حتمی دولتی اخبار مطالعه کړی خو سره له دی ټولو محدودیتونو ما دا تصمیم ونیو چی د محکومیت او مظلومیت دغه مضبوط حصار به د ایمان په قوت ماتوم زما دغه تصمیم او اراده د داؤدی کودتا له مینځ ته راتلو سره نوره هم پسی پخه شوه او دی قطعی نتیجی ته و رسیدم چه د ظلم مانی ورانیدلی شی .**

لیږدا وُه له خپل پخوانی تنظیم سره مودجهادپه‌سنګر کی‌پیوستون وکړ ، په دی ځای کی دترجیحی و جوهاتو بیانولو ته څه‌ضرورت نشته ، په لنډو ټکیو کی به‌داسی ووایم چه د افغانستان اسلامی حزب زما فکری او عقیدوی خط دی او په دی خط کی به‌تراخره وخته پوری فی سبیل الله جهاد ته دوام ورکوم .

پوښتنه :- ددی اوه کلن پر له پسی عملی جهاد په دوران کی چه د روسانو پر خلاف مو پیل کړی څومره نوی جبهات مو تاسیس کړی ، په کومو، کومو ځایو کی دی ، څو حملی‌مولاتر او سه په دښمن کړی، او څومره غنیمتونه او څه ډول‌پریالیتوبونه مو ترلاسه کړی ، او د شهیدانو شمیر مو څوتنو ته رسیدلی ؟

ځواب :- د منظم جهاد په دغه او پړه موده کی مو د خدای په فضل زیات شمیرمرکزونه تاسیس کړی چه د څونومونه په لاندی ډول یا دوم :

۱ - په‌زابل کی‌مرکزی‌جبهه‌چه دشینکی‌په کوتل کی‌موقعیت لری
۲ - د شاجوی جبهه
۳ - د شمو لزائی جبهه
۴ - د شهامت جبهه
۵ - د ناوی داولسوالی جبهه
۶ - د مقر جبهه
۷ - د واغظ‌جبهه
۸ - د ارزګان مرکزی جبهه
۹ - د هلمند دولایت مجاهدینو ته د جهادپه پیل کی‌وسله ورکړل شوی
۱۰ - دمعروف داولسوالی جبهه
۱۱ - د حمزی جبهه
۱۲ - د فراه پهولایت کی‌مختلف مراکز لرو

ظفر الدین خان له استاد عابد سره د مرکی په حال کی

۱۳ - زیات‌شمیر چریکی کروپونه مسلح شوی
۱۴ - د کندهار فی‌سبیل‌الله‌کنډک
۱۵ - د جند الله کنډک
۱۶ - دمحی‌الدین(دروازګی)جبهه
۱۸ - سپار کنډک
۱۷ - د خاص غر جبهه

هغه عملیات چه لا تر او سه‌په تعرضی او مدافعوی‌توګه دښمن په مقابل کی اجراشوی شمیر ئی له (۵۰۰) څخه هم زیاتیږی‌او په دی خو کان جهاد کی دوی منظم کنډکونه او یو ټولی را ته تسلیم شوی ، او هغه‌درنی‌اوسپکی وسلی مو چه له دښمن څخه په غنیمت اخستی شمیرئی سلهاؤ ته رسیږی ، همدارنګه په دی لړکی مو تقلیه و سایط ، مختلف النوع مو تر ، زرهپوښونه اومحاربوی ماشین مو په غنیمت اخستی ، او د هغو شهیدانو شمیر چه مسئولیتونه ورته سپارل شوی‌وو(۱۵) تنوته رسیږی او په غونډه پوری په مربوطو جبهاتو کی د شهیدانوشمیرزیات دی .

پوښتنه :- دافغانستان دمجاهدینو اسلامی اتحاد په‌دوران کی ستاسو د غونډو وضع څرنګه‌وه‌واوکمالات مو له کوم ځایه خواکیدل ؟

ځواب :- د اتحاد په دوران کی هم زمونږ غونډې مستقل‌موجودیت درلود او اکمالات ئی د تنظیم له فیصلی سره سم د اتحاد د نظامی کمیټی له خوا کیدل .

پوښتنه :- د اتحاد له رنګیدو څخه وروسته د غونډو وضع څرنګه ده ؟

ځواب :- د اتحاد له رنګیدو څخه وروسته لکه د پخوا‌په شان هر څه موږه اسلامی حزب پوری مربوط دی ، او په کامل اعتماداو تفاهم خپل مسؤلیتونه‌ترسره‌کوو.

پوښته :- دیوه نوی اتحاد او یا فعلی ائتلاف په برخه کی مو نظر څه دی ؟

ځواب :- د تیرو اتحادونوپه نسبت فعلی ائتلاف ښه دی ځکه چه د پرو پاکندو او منفی‌تبلیغا تو مخه پکی نیول شوی‌ده‌که بو واقعی اوریښتینی اتحاد منځ ته راځی هغه به د خدای پولوی رحم وی ، او د خدای داسی عظیم رحم ته ستړکی په لاره‌یو.

پوښتنه :- په افغانستان کی د جهاد او سنی وضع څرنګه درته ښکاری ، یعنی جهاد ته د دوام له لاری د افغانستان د ازادی امکان شته او که نه ؟

ځواب :- جهاددبنده له بندګی‌د ازادی‌پوازی‌لارده، چیرته چه جهاد نه‌وی هلته اسارت او غلامی وی، موږ به د خدای په فضل او کرم د جهاد له لاری افغانستان ازاد وو نه له کومی بلی لاری ، خود وړه باید و وایم چه دجهاد په سنګرونوکی با ید وحدت پیداشی‌او دادشهید انوپه‌وینو سره سنګرونه‌پایدله مشکو کوکسانو

څخه پاک شی -

پوښتنه :- ستاسو په نظر سیاسی حل ته څه ډول عناصر هیله من دی ؟

ځواب :- بی خاصیته او این الوقت اویی ارادی او دهردیو په چوپړ وهلوکی پالل شوی او روزل شوی عناصر د سیاسی حل غوښتونکی دی ، هغه ملت چه خدای ئی هدف پیژ ندلی وی ، او قرآن خپل دستور او پیغمبر ﷺ خپل قائد بولی ، او جهاد ئی دخپل ژوندلاره تاکلی وی او عزت په جهاد کی لټوی او شهادت ئی ارزو وی داسی ملت هیڅکله سیاسی حل ته چه په واقع کی د سیاسی اسارت په معنی دی نه حاضریږی

پوښتنه :- له عسکری لحاظه د روس ، امریکا ، پاکستان او ایران نقش د افغانستان په کشاله کی څرنګه تحلیلوی ؟

ځواب :- په دی برخه کی زما تحلیل هم هماغه دی چه زمونږ مشر ورور حکمتیارصاحب کړی دی .

پوښتنه :- که چیری سیاسی حل تحقق مومی په دی صورت کی به ستاسو په نظر زمونږ دریځ څه وی ؟

ځواب :- هغه سیاسی حل چه د مجاهدینو قیادت پکی مطرح نه وی ، او زمونږ د مجاهد ولس قناعت پکی حاصل نشی هیڅکله تحقق نشی موندلی، او که څوک داسی یو طرفه سیاسی حل په مونږ باندی تحمیلوی هغه به هیڅکله و نه منو، او زمونږدریځ به همداوی چه جهاد ته به‌دوام ورکوو ترڅو د خدای په مرسته خپله مسئله په خپله حل کړو .

په پای کی کـه د جهـاد د مؤثریت اوګرندی کولو پههکله د افغانستان مؤمن او مجاهدؤلس او نورو مجاهدینو مسلمانانو ته کوم پیغام لری مهربانی وکړی ؟

: د جهاد مؤثریت په تقوی او یو والی کی دی ، زما پیغام هر هغه مجاهد ته دادی چه د حق په سنګر کی قرار لری چه له خدای نه لازماً باید و ویریږی ، له خدای څخه دویری لازمی نتیجه یووالی دی ، کله که‌زمونږ په زړونو کی تقوی او په صفونو کی مو نظم او یووالی پیداشو بیادنړی هیڅ کفری طاقت زمونږ مقابله نشی کولی ، نن سباچه مسلمانان په ډول ، ډول مشکلا تو کی ښکیل دی وجه ئی همدا ده چه د تقوی په ځای نفسانیت ور باندی غلبه کړی ، زه د ګردی نړی مسلمانـا نـوڅخه بالعموم او د افغانستان له مؤمن او مجاهد ؤلس څخه بالخصوص دیوه کشر ورور په حیث داسی هیله لرم چه اوس باید یوبل ته د دورورولی لاس په لاس کی ورکړو ، او په هرځای ، هر وخت ، هر حالت اوهر کار کی یودبل مرسته او حمایت وکړو مومن ملت ته می دازیری هم ورکوم چی که خدای کول زمونږ د زرګونو شهید انووینی بـه د اسلامی نظام او آزادی خونړه ثمره راوړی نورمو د انتظاروخت تیردی‌او دکاملی آزادی په درشل کی یو . (والسلام)

زمونږ ارتباط او اړیکی د افغانستان له اسلامی حزب سره نویی نـه دی بلکی د تحصیـل له دوران څخه زمـا اړیکی له همـدی حزب سره ټینګی وی کلـه چـه رب العلمین په کمونستانو باندی غلبه او بری را کړ او غونډه مو د اعـلی جرګی پـه لور را و لیږداوه له خپـل پخوانی تنظیم سره مو د جهاد په سنګر کی پیوستون وکړ

ای مؤمنان ! هنگامیکه در روز جنگ با کفار روبه رو میشوید ، به ایشان پشت نگردانید (از جنگ فرار نکنید !) و کسیکه در چنین روزی از جنگ رو میگرداند ، بجز اینکه برای جنگ آماده‌گی بگیرد و یا به لشکردیگری بپیوندد ، به تحقیق که گرفتار غضب خدا شد و جایگاه اش جهنم و (جهنم) جای بدی است . (الانفال : ۱۵ ، ۱۶)

د پکتیکا ولایت د سید جلال بخاری (رح)..

کی د هیجان ، مقاومت او فداکاری اوصاف را ژوندی کوي ، او له بل پلوه د مقدس هدف لپاره مقدسه وسیله هم ضرور ده ، نو ځکه په ښکاره ډول ویلای شم چه د افغانستان مؤمن ملت د مقدس هدف یعنی د خدای د رضا حاصلولو لپاره د مقدسی لاری په مسیر کی دیر اوچت ګامونه اخیستی او د نصرت او کامیابی لوړو څوکو ته رسیدلی دي ، د دی ترځنګ د موږال نقش بلخصوص په نظامی ډګرکی د یادونی وړده ؛ او بیا هم دموږال قوت اوضعف پهدف پوری تعلق لری ، نو ځکه په ډاګه باید و ویلی شي چه د قوی موږال خاوند مجاهدین به حتماً فتح او بری ترلاسه کوي ، او یوه بله امیدواری هم داده چه هر هغه نظام چه د فطرت مخالف وی هغه به خامخا له شکست او نابودی سره مخامخ کیږی .

د همدی پورته څولندو مثالونو په ویلو سره دی نتیجی ته رسیږو چه روسانو پهافغانستانکی په نظامی، سیاسی ، اقتصادی او ایدیالوژیکی ډګرونوکی شکست خوړلی ده او خوری بهئی ، او زما د دی مدعا ثبوت اکثره هغه شرق اوغربی خبری منابع هم دی چه دیوه بی وزلی ملت د مقاومت اوشجاعت داستانئي د معاصر طاغوتی جهان هرګوټ ته ورساوه او حتی د پیړلو پیړیو خوبولیملتونو تهئي هم د پاڅون او قربانی احساس ورکړ ، د مجاهدینو او روسانو وروستنی برخوردونه د دی حقیقت ګواهی ورکوی چه په افغانستان کی نور چریکی ابتدائي جنګونه په منظمو جبهوی جنګونو بدل شوی دي، او چریکی جنګ هغه وخت په جبهوی جنګ بد لیدای شي چه مردمی قوت او تحرک ورسره شي ، نو همدا علت دی چه په اکثر و ځایو کی د مجاهدینو لوی مرکزونه او بیا د مرکزونو او خلکو د استعمال لاری ترسخت فشار لاندی دی ترڅو چه د دی فشار پواسطه د مجاهدینو مردمی وجاهت ختم کړی ، د مجاهدینو مقاومت د پروسی استعمار زمامداران د افغانستان ځخه د وتلو مفکوری ته حاضر کړی دي او د روسانووتل به د افغانستان ځخه دکمونیستی نظام عظیم اوکلی شکست وي .

نن ورځ د افغانستان اسلامی انقلاب په درونی حالتکی دیو Passive Resistence(پیسوریزیستینس) په موقعیت کی قرار لری ، که د روسانو زور زیاتی او وحشت زیاتیږی ، په مقابل کی د مجاهدینو صفوف فشرده او تجارب هم زیاتیږی او د نوری دنیا ذهنیت هم فرق کوی او شاید هم د دوی همدردی او خواخوږی زیاته شي ... پس په لنډ ډول سره ویلای شوچه مقاومت او اسلامی انقلاب نن په داسی حساسه

او جوړونکی مرحلهکی واقع دی چه د دشمن زبونی او خواری حتمی ښکاری .

پوښتنه : ترهغه وروسته چی زموږ د مسلمان ملت د عقیدی او اسلامی انقلاب له امله کمونیستان له رسوا ایدیولوژیکی ماتی سره مخامخ شول ، نو د خپلو باداراتو به دستورئی د خلکو د غولولو لپاره یوځل پروګرامونه پیل کړی تاسی د دوی د نیرنګ په هکله څه ویل غواړی ؟

ځواب : کارمل د نورو کمونیستی رهبرانو په څیر هغه موجـود دی چه پـه خپل ضمـیر کی له آزار ورکوونکی تردد او دودلی څخه سخت رنځ وړی . او تل زیار باسی چه خپل دا خصوصیت دمختلفوطرحو او دسیسو په عملی کولو سره پټ وساتی ترڅو چه له یوی خوا د خپل بادار رضایت ترلاسه کړی او له بلی خوا خپلو مات اوګودو اعضاوته د تسکین پتی ولګوی، او زه باورلرم چه کمونیستی دلی ټپلی د خپلو تولو پروګرامونو او طرحو په کامیابی کی سخت تردید لری، نن ورځ روسان هم پوهیدلی دی چه د افغانستان جامعـه د فطرت ضد کمونیستی نظام د منلوګنجایش نلری او د خپلو قواو راتګ دی تاتوبی ته یوه سیاسی او نظامی اشتباه بولی ، هغه پـه دی ځای کی نـه خلاصیږی بلکه د دوی جامعه له سخټو او هر اړخیز عقیدتی مقاومتونو اوکړکو سره مخامخ شوی ده اوپه المللی رسوایی ئی نصیب شوی له بل پلوه دروسانو څخه د تصمیم ګیری لاره ورکه شوی ده نو ځکه دوی لکه د سیل اخستی په شان کله یولوتی او کله هم بل لوتی تـه لاس اچوی تر څو چـه نجات ومومی ، خو د دوی فعالیتونه په داخل کی د اسلامی او ناسیونالیستی ډلو له خوا ، پـه اروپا کی د یوګوسلاویا له خوا ، او په آسیا کی د چین له خوا له ډیرتهدید سره مخامخ دي . روسان خپله او هم د خپلو حلقه بګوش غلامانو پواسطه غواړی چـه په تجاوز لاس پوری کړی ترڅو چه د پراختیا غوښتنی په وسیله خپل داخلی تضادونه تسکین کړی ، په افغانستان کی د اسلامی نهضت وژل د ترکستان ، ازبکستان ، آذربایجان او نورو اسلامی آیالتونو د وژلـو معنی لری نو خود به پـه افغانستان کی د اسلامی ځوان نهضت مخـه په مختلفو پروګرامونو باندی نیسی .

پوښتنه : توله نړی وینی چی د یو شمیر سیاسی ، نظامی تحلیل ګرانو د اتکل او تحلیل پرخلاف سره لدی چی روانه جګړه هره ورځ زموږ مسلمان ملت ته نوی ستونـزی او ناخـوالی راوړی خو بیا هـم الحمـد لله مقاومت ورځ په ورځ د استحکام په لوری روان دی تاسی چی د قضیی اوجریاناتو په منځ منځ کی کار کوی پدی باب یوځه رنا واچوی ؟

د دښمن د یوه هلیکوپټر توتـی چی
د پکتیکا ولایت د سرروښی
زړه ورو مجاهدینو را نسکور کړیدی .

ځواب : د دی سوال د ځواب لپـاره اګرچـه د الهی فیصلی هغه متن کافی دی چـه «ان الله لایحب المعتدین» . خو بیا هم تاکیداً عرض کوم چه هرهغه نظام چه د فطرت مخالف وي خامخا بهله شکست سره مخامخ کیږی ، د بشری قانـون په څیرنـه کی روسانو په یوکوچنی بی دفاع ملت باندی تعرض کړی ده او بی له کوم قانون او اصولی جواز ځخه‌ئي د دی قـوم او ملت استقلال او اسلامی هویت تهدید کړ ترڅو چه د خپلی تجاوزګری او وسعت طلبی تنده ماتـه کړی ، دی حادثی د نړی د قضاوت حس را ویښ کړ اوکله چه د مجاهدینو مقاومت د روسانو د قدرت او عظمت کاذب تصویر مات کړ نو بیا د قضیی د اصلی څیړی د انعکاس پـه خاطر د روسی ویجاړ شویو تانکونو او ماتو هلیکوپټرو عکسونو د تلویزون پردی او د رادیو

څپې اشغال کړی، څومره چه روسی وحشت او بربریت مخ په زیاتیدو ؤ په همغه اندازه د نړیوالو نفرت له روسانو څخه زیات شو او لکه څنګه چې تولو ته معلومه چه دا جګړه یوه غیرمتناسبه او غیر متوازنه جګړه ده یو چپاولګر فرعونی‌قوت او بل کم شمیره او با ایمانه غیرتی ملت دی نو د دوی حمایت او قضاوت هم د مجاهدو قوتونو په طرف شو .

اوس هم قضیه د پخوا په شان دوام لری ، او څومره چه د روسانو فشارونه زیاتیږی او ملت له کړاوونو اوستونځو سره مخامخ کیږی، په همغه اندازه باندی هم اثر اچوی ، او اکثریت بالخصوص محکوم اکثریت د دولتی دغوطرحو سره مخالفت بښکاره کوی او په دی کی د بیداری حس را ژوندی کوی ، ددی مدعا د ثبوت لپاره د روسی وژل شویو افرادو څخه لاس ته راغلی اسناد او همدارنګه د روسیی په داخل کی د ځینو پیښو پیښیدل کافی دي ، څومره چه جنګ دوام پیدا کوی هغومره د روسی نظامی قوت بی کفایتی او ضعف نړیوالو ته او بالخصوص محکومو ملتونو ته د بیداری او قیام جرئت ورکوی . اوځومره چه جنګ اوږدیږی په همغه اندازه د روسانو

د پولنډ د خلکو پاڅون ، په یوکراین کی ناآرامی ، د روسی قواو څخه د افرادو تښته ، د یوګسلاویا موقف ، د چین دښمنی ، د مارکسیزم څیره افشا کیدل او په افغانستان کی د ننه دا زیاتی اقتصادی او نظامی تباهی زما د دی مدعا ګواهی ورکوی ، څومره چی جنګ په افغانستان کی اوږدیږی همغومره د دی قضیی اثرات او حقایق په روسی ملت باندی هم اثر اچوی .

د مجاهدینو جنګی زده کړی او تجربی زیاتی او نړیوال نفرت د روسی بی فرهنګه نظام په مقابل کی زیاتیږی. روسانو په افغانستان کی سخته ماتی خوړلی ده او د دی خبری ثبوت خپله د کمونستی حزب د نشراتی ارګان (پرودا) په صفحو اوهمدارنګه د«پولیت بیرو» په فیصلو کی هم لیدلای شو .

د پولنډ د خلکو پاڅون، په یوکراین کی نا آرامی، د روسی قواوو څخه د افرادو فرار ، د یوګوسلاویا موقف د چین دښمنی ، د مارکسیزم د څیری افشا کیدل او په افغانستان کی د ننه د دوی د زیاتو اقتصادی او نظامی تباهی زما د دی مدعا ګواهی ورکوی، څومره چه جنګ په افغانستان کی اوږدیږی همغومره د دی قضیی اثرات او حقایق په روسی ملت اقتصادی ، سیاسی او اجتماعی ستونځی زیاتیږی . جنګ تن روسان کاملاً په ملحدو افغانانو بدګمانه کړی دي ، نو ځکه خاد د مختلفو ستونځو په رامنځ ته کیدو سره ځواږی چه خپل روسی اربابان راضی وساتی ؛ خو هغه څوک چه مورال‌ئي مات شي هغه‌بیا په داسی پیښونه ژوندی کیږی ، لکه چه یو مشهور متل دی :

«هغه څوک چه د توپک ترشا نامت وي هغه سهم وی ، نه توپک» ځکه چه که چیری هغه دتوپک ویشتلو زړه نه لری نو بیائی ویشتلای هم نشی .

پوښتنه : تیرکال د پخوا پرخلاف کفارو د مجاهدینو دتلو راتلو په لاروکی یولړ ستونزی ایجاد کړی وی ستاسی په نظر د دی عامل څه و او د حل لپاره ئی

چا تصور هم نشوی کولی چه لدی کمو خلکو بـه داسی ټولی جوړیږی چه د ټول ملت اوبالآخره د نړیوال اسلامی امت به هم د امید سترګی د هغوی پرلوری کیږی . ولی دا څه د تعجب خبره نده ، د ایمان او عقیدی په پراخه نړۍ کی بی شمیره داسی واقعی شوی دی . او د یوازی او یـکه خلکو پلاس اوچت اوچت کارونه ترسره شوی . په شعیر او وسایلومحاسبه او پریکړه نه کیږی ، په هدف او آرمان دا فیصلی کیدلی شی ، تل د سپیځلی الهی ارمان او هدف حاملین په ګډو بی هدفه پرګنوغالب شوی، دهمدی عقیدی پـه درلودلـو سره د کابل پوهنتون پـه فساد ځپلی زړه کی څو ځوانـانو و غوښتـل چه بایـد دا د ظلمتونو او تیارو زړه څیرې شی - مظلوم بشریت د فساد لدی خوساوند څخه د انسـانی فضیلت اخلاقـو او هیرشوی اسلامی تهذیب لور تـه راوایستل شی .

څومره نیکمرغه کال اوخه مبارکی ورځی وی چه زمونږ د اسلامی هیواد د مجد او عظمت د احیاء په منظور څو ځوانان پکی را ټول شول .

د ۱۳۴۸ کال لمړی ورځی وی. چه د بیداری جرس د خوب وړیو قافلـو د راویښولو پـه خاطر شور اوزونږ جوړکړ او د وړې د میاشتی



په ۱٤ نیټـه د یوه متعهد هدفمنـد او مهذب انسان استـاد عبدالرحیم نیازي (رحمت الله علیـه) ترمشری لانـدی د یوه عظیم الشانه تحریک د تاداو ډیره د کابل پوهنتون پـه ساحه کی کینبودل شوه ، دی الهی نهضت په لنډه موده کی وکولی شول چـه د شرک ، الحاد ، دهریت او فساد. د منفی او غیرانسانی تحریکونو پـه وړاندی خپـل دریځ اعلان او د منطق، استدلال مناظرو او مباحثو له لاری هغوی ته ماتی ورکړی .

چا زغملی شوی؟ دا تند اوطوفانی حرکت ؟ اصلاحی حـرکت ، کفـر لړزونکی اوطاغوت ماتونکی حرکت؟

له هری خوائی د مخالفت په دود سرونه را اوچت شول ، د الحاد له سنګره د فساد اوفیوډالی له مورچله، د عیاشی او خان غوښتنی، کمونیزم او بی‌بندوباری له سنګره پری‌ګذارونه پیل شول .

د دی ټولو سره سره الهی اصیل نهضت دا اغزنه او له کړاوونو که لار په ایمانی زغم او د سربندنی په عالیشانه روحیـه پلی کـړه ، نـه‌ئی د دربار تهدیدونو جهت بدل کړ او نـه د ساده مزاجو دوستانو عذرونو څـه اثر ورباندی پریوت دکابل له تنګ چاپیریال څخه‌ئی د ولس خورو ورو پرګنو تـه ، کلیو ، بانـډو او سردروته لارو ایستله ، هرځـای او هرچیرئی په حکومت کی د روانو ناخوالونه ملت ته آګاهی ورکوله. او هغـوی ئی دی الهـی خط تـه د مقدس آرمان د تعقیب پـه خاطر رابلل .

الحمد لله زمونږ ټول ملت په اسلام مین ؤ ، او یـوازی نظم او انسجام تـه‌یی ضرورت درلـود ، له همدی کبله‌ئی د خپل اسلامی نهضت خوا ته پناه یوړه ، او وروستنیوجریاناتو دا په ډاګه کړه چی ملت دتهدیدونو په زور له خپـل تحریک نـه لـیری ساتل کیده ، او د پردی فکرلورته‌ئی لار آزاده پریښودل شوی وه ، څوک په یاد نلری چـه د ظاهر شاه پـه وراستـه او جاهلانـه سلطنت کی د کمـونیستی یـا امپریـالیستی فکـر

څه تدابیر په پام کی لری ؟

ځواب : د جګړی فورم اوشکل د ورځو اومیاشتو له بدلون سره بدلیږی ، پخوا مجاهدینو د وړو ډلو په شکل متفرق حملی کولی او دشمن هم عکس العمل ښکاره کاوه خو نن مجاهدین د لویو مرکزونوخاوندان دی او د آزاد و منطقو د ستونزو د حل یوازنی مرجع دی ، نن مجاهدین د خلکو صحی ، فرهنګی او قضائی مشکلات څیړی او د هغوی د حل په لټه کی دی .

دشمن د مجاهدینو د نفوذ او محبوبیت د خنثی کولو لپاره مختلفی لاری و څیړلی خو په زړه پوری نتیجی ئی ترلاسه نکړی او برعکس د مجاهدینو وقار او حیثیت نورهم اوچت شو ، په همدی خاطردشمن تصمیم ونیو چه د خاد پواسطه د خلکو منځ ته ننوزی ترڅو چه له داخل نه تخریب شروع کړی ، د پکتیکا په ولایت کی په خاصه توګه په سرحدی منطقوکی دولت کوشش شروع کړی و چه د قومی مشرانو په منځ کی نفوذ پیدا کړی ؛ خو مجاهدینو د روسانو دا کار خنثی کړ او یوځل بیائي خپل اسلامی هویت څرګند کړ . د پکتیکا ولایت یوازنی ولایت ؤ چه مجاهدینو د روسی غنیمت شویو وسایلو پواسطه خپل احتیاجات پکی انتقالول او له بل پلوه د اسلام دا باب د روسانو لپاره یو څرګند خطر ؤ په همدی خاطرئي دا ولایات ترسخت فشار لاندی راوست ترڅو چه دا د انتقال ستراتیژیکه لاره بنده کړی ، روسانو په دی ترتیب سره غوښتل چه د منطقی خلک نورهم ترفشار لاندی راولی چه د دوی شوموا میالوته تسلیم شي .

هرکمین باید په کمین مات شي ، د روسانو د دی تاکتیکو په مقابل کی د مجاهدینو ځیرکی روسانوته دیرښه ځواب ګوئی کیدای شي ، د متحدو سیارو ګروپونو تشکیل او د سیارو اسلامی پوستو جوړیدل د لارو په مسیرکی د خلکو د امنیت ساتل تظمینوی. که موږ وکولای شو چه د قومی پو چی روحی په ځای د خلکو په اذهانو کی اسلامی روحیه پیدا کړو او وضع شوی منطقوی حدود رفع کړو نو په متحد او منسجم ډول سره دکفارو دسیسی خنثی کولای شو . یقیناً خود خواهی او تکبر او ځان ځانی د اسلامی انقلاب نظم او وحدت متزلزل کولای شي او برعکس ګذشت ، تواضع او فداکاری د انقلاب د بری زیری لری .

پوښتنه : پدی ورځو کی د افغانستان د قضیی د سیاسی حل په نامه د ژینو د خبرو اترو د اووم پړاو د نتیجی په باب د امیدواری لپاره یوه سلسله حرکتونه اوهنګامی روانی دی تاسی د جهاد د سنګر د یوه مسؤول په توګه لدی جریان نه څه برداشت لری ؟

ځواب : که د سیاسی حل نه مراد دروسانو بلاقید

جنګ نن روسان په ملحدو افغانانو بشپړ بدګومانه کړی دی، نوځکه خاد د مختلفو ستونځو په رامنځته کولو سره غواړی چی خپل روسی اربابان راضی وساتی خو چی د چا یوځل مورال مات شی هغه بیا په داسی پیښونه ژوندی کیږی ، لکه چی یو مشهور متل دی «هغه څوک چی د توپک ترشا ناست وی مهم وی نه توپک» ځکه چی که چیری هغه د توپک ویشتلو زړه نه لری ، نو بیائی ویشتلای هم نه شی .

باقی په (۴۵) مخ کی

راغلی لیکونه



دشفق مجلی قدرمنو کارکوونکو اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

ترهرڅه لومړی مو صحت او سلامتی د ټول اهل اسلام سره غواړم .

محترمو ورونړو ! دمجلی دکیفیت اوکمیت د ښه والی زیری درکوم اوله خدای(ج)څخه نورهم په دغه لارکی بریالیتوب درته غواړم .

دوستانو منم چی شفق مجله د هر راز سیاسی ، علمی فرهنگی او عقیدوی ارزښتناکو مضامینو درلودونکی ده خوزه یوبل پیشنهاد کوم هغه داچی دغه مجله د هیواد په درستو وینولړوسنگرو کی ناستومجاهدینو ته رسیږی که د طب(پانسمان ، جراحی . . .) په باب هم مضامین ولری مجاهدینو ته به ډیره گټوره شی، اودادی ،د پاڅون تر عنوان لاندی یوشعر هم درلیږم چی که د نشر وړوی نشریی کړی په درناوی .

له باوچستان کویټی د مچپائی کمپ څخه ستاسی وروړخان محمد (زړه سوانـد) د شمس العلم د مدرسی ښوونکی .

قدر من ورور زړه سواندصیب !

زمونږ سلامونه هم در واخله ، د مجلی په باب دی دنیکو نظریاتو خدای(ج) اجر درکړی ډیره منننه.

وروره ! ستاد پیشنهادپه باب باید ووایو چی د افغانستان د اسلامی حزب په تشکیلاتوکی د روغتیائی ستونزو د حل لپاره د صحی کمیسیون په نوم کمیسیون جوړدی او نومورې کمیسیون د صحی او طبی پرسونل د تربیی ، مجاهدینو د تداوی اود نوروطبی موادوتهیه کو لومسؤلیت په غاړه لری همدغه کمیسیون د تعلیم او تربیی په نوم څانگړی آمریت هم لری چه طبی کتابونه طبع او پرسونل وروزی مونږ ستاسی پیشنها د هغوی ته راجع کوؤ او په دغه برخه کی یی لا جدیت غواړو په را تلونکو گڼوکی به دی شعر نشر شی بریالی اوسی .

کارکنان و مسؤلین مجله شفق اسلام علیکم ورحمة‌الله و برکاته !

چندی قبل یک شماره از مجله و زین شفق یکی از دوستا نم برایم داده محتویات آن واقعاً دلچسپ و عالی بود وعطش علمی وفرهنگی بنده‌را تا اندازه‌فرونشاند اینجانب نیز خواستار اشتراک در مجله میباشم‌امیدوارم آدرس‌شان برایم ارسال نمائید تابا پرداخت حق الاشتراک در آینده از نشرات تان استفاده نمایم، وسلام.برادر تان عبدالغنی غفوری‌جده سعودی عربستان .

برادر محترم عبدالغنی (غفوری) !

سلام های مارا نیز بپذیرید .

برادرم! از نظرنیک تان متشکریم و حق الاشتراک تان

ذریعه پوسته به پوست بکس مجله ارسال کرده می توانید .

باتقدیم احترام (اداره)

د ارشاد او فرهنگ کمیسیون محترمو غړو او د شفق مجلی درلنو کارکوونکو!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

دا چې ستاسو نشرات وینو نو باور وکړی چې زړه مو پرې خوشاله کیږی او اوس خو لا زیات ستاسو په نشراتو کې بدلون راغلی دی، په دی برخه کې زیات بریالیتوبونه درتـه غواړم، خو ورونو د شفق مجلی د اتمی گنی په «یا دوارمې از شهـدای راستین» برخه کې مو د غمجنی مړینی ترعنوان لانـدی د یو تن د مړینی په باب څـه ولوستل. نه پوهیږو چې تاسو ولی د دا ډول یوه مشکوک کس مړینه د غمجنی مړینی پـه نامه خپروی، که چیری د کارونو د زیاتـوالی له امله درځخه سهواً تیرشوی وی او یا هم دا چې شهیدانو ته د درناوی پـه خاطر مو د یوه باور له مخې نشرتـه سپارلی پـه هرصورت په راتلونکی کې په دی برخه کې ستاسی د څانګړی پاملرنې هیله من یو تر څو د افغانستـان د اسلامی حـزب د یوه اعتبار لرونکی نشراتی ارګان څخه د دا ډول کسانومرګ دغمجنی مړینی او یا هم د شهادت پـه نامه خپاره نه شی، په درناوی.

ستاسو ورور ن، ج د وردګو د ولایت څخه.

محترم ورور د وردګو ولایت څخه ن، ج

هیله ده زمونږ سلامونه هم ومنی.

ورورہ! دا چې زمونږ خپرونې مو ستایلی درځخه مننه کـوو، رښتیاهم مونږ لدی امله چې د شهیدانوکارونه مو شاته نه وی غورځولی او یاهم د هغوی په باب تنبلی نه وی راله شوی، نو د یوه اسلامی ورورګلویز باور له مخې مو د هغه کس د مړینې په باب مضمون خپورکړی چې شفاهی څوتنونورو هم راته یادآوری کړیدی، انشأ الله له دی وروسته به په دغه برخـه کې زیاته پاملرنه کـوو، خو که چیری د شهیدانـو د پیژندنې د چاپ او خپراوی په کار کې څـه څنډ راځسی او یا هم مسؤول منابع د هغوی د نـه نشر کیدو په برخه کې څه ناڅـه یادونی ولری نو هیله ده د شهیدانو کورنی او نور په جهاد کې شریک ورونـه بـه را څخه ګیله نـه کـوی، که خدای (ج) کول بیا به د هر شهید د پخوانیو کړووړو په هکله کـره او ریښتینې معلومات ترلاسه کـوو په درنښت.

«اداره»

د میانوالی ضلـع د عیسی خیلـو کیمپ حضرت ابوبکر صـدیق د مدرسې دریم ټولګی زده کوونکی ګران ورور پاینده محمد صدیقیار مـونږ ته یـوښکلی لیـک را لیږلی دا د سبا ورځې د اسلامی انقلاب پاسدار په خپل لیک کې له سلام وروسته څوپه زړه پورې شعارونه لیکلی دی ګران ورور له مونږ نه یو ټوک مجلـه او یود اشعـارو کتاب هم غوښتی دغه ورورلیکلی دی چې:

زه پاینـده محمد (صـدیقیار) د دریم ټولګی اول نمره یم یومجله اویود شعرونو کتـاب را ولیږی ډیر به د رنه خوښ شم.

زنده باد حزب‌اسلامی‌افغانستان
زنده باد مجاهدین افغانستان
مرګ د شوروی په کاسه پاکانو
مرګ د اسلام په دښمنانو

اووسلام پاینده محمد صدیقیار.

ګـران ورور پاینده محمد جـان (صدیقیار) سلامونو ته دی‌وعلیکم السلام وایو
ګرانه ورورہ!

له خـدای(ج) پاک څخه درتـه دلابنه‌استعداد اوذکاوت غـوښتنه کـوو کتـاب او مجلـه به کـه خـدای(ج) کول درولیږو منتظر اوسه.

په درناوی (اداره)



یادواره یی از شهدای راستین

. یادی از قهرمان جانبازاسلام شهید مامور محمد اعظم «صدیق». مجاهد حماسه ساز و مبارز مکتبی، برادر محمد اعظم «صدیق» که اسم فرعی اش بریالی بود میباشد. اسم پدر بزرگوارش فقیر محمد و مسکونه قریه ملنگانی علاقداری دولت شاه ولایت لغمان میباشد شهید یکتن از مبارزین راستین کشور بخون غنودهٔ ما محسوب می شود، او همیشه از نارساییها ، و مفاسد اخلاق در اجتماعش رنج میبرد و همواره غرض نابودی آن می اندیشید، انسانیت و همدفندی را در آئینه صفای مجاهدت و تلاش های پیگیرمینگریست .

صدیق شهید سی سال قبل در یک فامیل خدا پرست پا به عرصهٔ وجود گذاشت. پس از سپری شدن دورهٔ کودکی شامل مکتب ابتدائیه دولت شاه گردید ، بر علاوه از

مکتب جهت فرا گیری علوم اسلامی بمساجد میرفت و در سال ۱۳۵۰ به‌لیسه ادارهٔ عامهٔ کابل معرف گردید. نامبرده از استعداد سرشار در بین همقطارانش برخوردار بود و افتخار عضویت نهضت اسلامی کشور را در سال ۱۳۵۱ کسب نمود. هنوز متعلم صنف یازده هم بود که افتخار شناخت باشهید والا مقام «سیف الدین نصرت یار» حاصل داشت.

نامبرده بعد از فراغت از مکتب بصفت مامور در مستوفیت ولایت غزنی ایفای وظیفه نمود. و صفحه جدیدی بر زندگیش گشوده شد، برادر شهیدمان در جریان ماموریت نیز خاموش نه نشسته بمبارزات خویش بیشتراز پیش ادامه میدارد.

هنوز سه سال از دورهٔ ماموریتش نگذشته بود که کودتاچیان ثور سلطنت ستم‌آباد داود را سرنگون پرچم کفر و الحاد را بر در و دیوار کاخ های دولتی بر افراشتند، در این زمان جهت نا بودی علمبرداران مکتب خیالی کمونیزم بمبارزات اسلامی خویش شدت بخشید، در آن ایام مورد تعقیب عناصر مزدور قرار گرفت، وظیفه اش را ترک گفته از غزنی عازم کابل گردید. نامبرده جهت پیاده نمودن اهداف مقدمش شامل کورس مستعجل نظامی کابل درعقرب ۱۳۵۷ شد، در آنجا نیز با فعالیت های ایمانیش پرداخت، چند ماه از دورهٔ تحصیلش نگذشته بود که افشاء گردیده از طرف مزدوران روس دستگیر و اسیر شد. بعد از رهائی زندان در برج ثور ۱۳۵۸ به همراهی یک عده از همفکرانش راهٔ لغمان را در پیش گرفت و با مجاهدان سنگرنشین پیوست. در ماه اسد همان سال جهت اخذ یک سلسله هدایات به مرکز حزب اسلامی آمد و بعد از سپری نمودن یک ماه با عدهٔ از برادران مجاهد بار دیگرعازم جبهات گرم جهادگردید. بعد از سپری شدن ایامی چند، علاوه از فرماندهی یکگروپ چریکی، بحیث آمر کشف و اطلاعات جبهه علیشنگ منتخب گردید. در این زمان ده ها پوسته دولتی را فتح و چندین مرتبه ولایت لغمان مورد حمله شان قرار گرفت. بالاخره بنا بر تقاضای برادران مجاهد بحیث قوماندان عمومی جبهات علیشنگ تعیین گردید. نامبرده باکمال اخلاص و صداقت مندی جهت انتظام بخشیدن بهتری سنگر های جهاد شب و روز در تپ و تلاش بود. در جریان بسر رسانیدن این مأمول بزرگ درناحیهٔ «وچ‌شمکت» مربوط مرکز ولایت لغمان طی توطئه‌یی که قبلاً ازطرف عمال خود فروخته و مزدور دولت طرح ریزی شده بود، بعد از چهارسال جهاد مسلحانه با یک تن از همسنگرانش «خواجه محمد محفوظ» بشهادت رسید و باخون سرخش نهال انقلاب را آبیاری نمود.

۲- انجینر حلیم گل فرزند بابه گل درسال ۱۳۳٤ دریک فامیل متدین و خدا پرست در کوه پایه های فرزه ولسوالی میر بچه کوت ولایت کابل دیده به‌جهان پرآشوب گشود، نامبرده از آوان کودکی تحت تربیت خانواده اش قرار گرفت به فراگیری علوم دینی پرداخت. بعد از سپری نمودن ایام طفولیت

شامل ابتدائیه فرزه گردید و به سال ۱۳۴۸ شامل لیسه استالف گردید. شهید حلیم گل از استعداد سرشار و خدا داد برخوردار بود مکتب را بدرجه عالی به‌پایان رسانید.

و شامل انستیتوت پولی تخنیک کابل گردید. در جریان تحصیل در راه پیشبرد اهداف اسلام عزیز استوارانه گام برمیداشت و همیشه با روحیه سرشار درس شهامت و ایثار را علاوه بردروس صنفی خویش تدارک می‌نمود.

سال ۱۳۵۹ بپایان نرسیده بود که مورد تعقیب دستنشانده‌گان روس قرار گرفت، و به یاری خداوند خود را از این ورطه هولناک نجات بخشید و دست به اسلحه برد - صفحه دیگری درزندگی اش باز شد. او سرشار از عشق با خدا در این مسیرسترک قدم می نهاد - شب و روز آرام نداشت همیشه درکمین نشسته بود تا وطن عزیز خویش را از لوث خود فروختگان و مزدوران و دربان شان پاک سازد.

شهید حلیم گل در قدم اول با سائر همرزمانش ولسوالی میر بچه کوت را از لوث جرثومهٔ های شر و فساد پاک ساخت و گلیم کمونست‌ها را برچید.

به اثر خدمات برجسته وفداکاری هایش در قدم اول به صفت آمر حوزه فرزه بعداً مسئوولیت حوزه میر بچه کوت را به عهده اش سپرده شد. علاوه بروظایف فوق معاونت حوزه البدر را نیز به‌عهده داشت.

شهید حلیم گل در جریان مبارزات خویش ضربات خوردکنندهٔ به‌خصم بزدل و خون آشام وارد ساخت. روسهای سفاک از گرفتن نام حلیم گل شهید در خوف و ترس بودند. تا اینکه طی یک پلان از قبل تنظیم شده بتاریخ ٤ قوس ۱۳٦٤ در روزیکه مردم میلاد مسعود سرور کاینات را جشن گرفته بودند دست کثیف مزدوران وابسته به استعمار به خون مطهر حلیم گل و پنج تن از همسنگرانش سرخ شد و لکهٔ ننگین را در تاریخ نصیب شدند.

بلی! آن کبوتر آزادی به قله های شامخ شهادت پرکشید و به آرمان همیشه‌گی اش رسید.

روحت شاد یادت گرامی باد

ای شهید جاوید!

شهید سیفل خان د ملک عبدالجبار خوی د لغمان د ولایت د النیگار په دره کی د

نور لا م صاحب علیه رحمت د پریانه په‌کلی‌کی په یوه دینداره او مسلمانه کورنی‌کی زیږیدلی نومورې وروړله وړوکوالی نه د اسلام په مقدس دین باندی مین ؤ او د ده اخلاق دومره ښه او اوچت وه چی ده سره یوځای زده کوونکو ملګرو ورته د شرافت غرویلی نومورې وروړ د سنګره په لیسه‌کی په زده کړه بوخت وه چی ملحد او دهری حکومت د اقتدار واګی په لاس‌کی واخست، څرنګه چی شهید سیفل خان د قوی ایمان خاوند او د اسلام سپیڅلی‌دین پتنګ وه نو د (۱۲)م ټولګی څخه د فارغیدو نه وروسته د مجاهدینو په صفکی شامل شو وړومبنی کورنی د دوی وه چی پخپل

کلی کی ترټولود مخه یی مجاهدینوهر کلی وکړ او د ترهکی ملحد حکومت په خلاف په مسلحانه جهادکی فعاله ونده واخیست، نوموړی ورور چی د اسلام په مینه مست وه حملهکی د دښمن فوځونو څخه ۲۵ توپکی په غنیمت نیولی ؤ ،

نوموړی ورور یوځلی په یواځی ځان (٦) تنه سربازان ژوندی نیولی همدا راز په یوه بل یوه چریکی حملهکی ملحدفوځیانو د لاسه په شهادت ورسید او الله(ج) خپل بنده په زړه سوری سوری او په سروینو رنګ خپل خوا ته وبالل

شهید سلطان عزیز

شهید برادر سلطان عزیز مشهور به «سردار» فرزند محمد ابراهیم در سال ۱۳۳۹ در علاقداری جلریز ولایت وردک در یک خانواده خدا پرست پا به عرصهٔ وجود گذاشت. در زمانیکه که کودتای ننگین ثور به وقوع پیوست برادر شهید ما متعلم صف ۱۱ در لیسه رحمن بابا بود ، بلافاصله مکتب را ترک گفته راه هجرت را درپیش گرفت بعد از سپری نمودن مدتی دوباره به وطن برگشته بتاریخ ۲۲-۵-٦٤ در یک برخورد رویا روی با دشمن سفاک باهفت تن از همسنگرانش جام شهادت را نوشید .

روحش شاد یاداش گرامی باد

شهید نقیب‌الله :

شهید برادر نقیب الله فرزند عزت الله یکتن از مجاهدین قهرمان ولسوالی رستاق بشمار می رفت ، نامبرده در شهر کهنهٔ ولسوالی رستاق ولایت تخار دیده بجهان کشود. و بتاریخ ٦-۸-۱۳٦٤ هدف گلوله تجاوزگران وحشی قرار گرفته جام شهادت را نوشید و به کاروان حق طلبان پیوشت.

روحش شاد یادش گرامی باد .

شهید مولوی عبدالقدوس

شهید مولوی عبدالقدوس در برج عقرب سال ۱۳۲۳ در یک خانوادهٔ فقیر و خداجو درولسوالی رستاق ولایت تخار چشم بجهان باز کرد ، و در سال ۱۳۵۵ افتخار نهضت اسلامی کشور را حاصل کرد. نامبرده بر علاوه جهاد مسلحانه به تعلیم و تربیت مجاهدین در دشوار ترین شرایط نیز می پرداخت. بالاخره در روز چهارشنبه برج عقرب سال ۱۳٦۳ مورد تجاوز اجیران خود فروخته قرار گرفته بعد از مدت ۴۰ یوم زندان ، به مقام والای شهادت نائل آمد . عکس ندارد

شهید محمد حسن

شهید برادر محمد حسن فرزند سحر میر در قریه کشم مرکز کندز پا به عرصهٔ وجود گذاشت. بعد از سپری نمودن ایام کودکی شامل مکتب گردید و تحصیلات خویش را الی صنف ۱۲ ادامه داد. قابل یاد آوریست که نامبرده عمرش را در راه تحقق آرمان اسلام انسانساز وقف کرد. بالاخره در حالیکه ۲۵ بهاری از زندگی را پشت سرگذاشته بود جام شهادت را به سرکشید و به رفیق اعلی پیوست.

روحش شاد راهش مستدام باد

د نړۍ په‌گوټ گوټ‌کی مسلمانان متأثر شول خو ځنوئی د تأثر سره د مخنیوی لپاره عملی متی‌راو نغښتی او د روسی استکبار پرخلاف ئی د خپلواکافغانی مجاهدینو ورونو ترځنګ د جهاد په صف کی ځای ونیوچی یو هم له داسی ننګیالیو اوتوریالیو ځوانانو نوځخه شهید گلاب وُچی نیغ د ډیروستو نځو او موانعو سره سره د ننګرهار ولایت د شهید نادر خان جبهی ته ولاړ او په وسله وال جهاد ئی پیل وکړ هغه په ډیر اخلاص خپل‌سر د اسلام په نامه د قربانی میدان ته د ایښود و لپاره یوړ او د ځوکا له پرلپسی‌جهاد څخه وروسته بالاخره د ۱۳٦٤ کال د عقرب د میاشتی په ځلورمه خپل هغه‌مرام‌ته چی ورپسی سر گردانهٔ ورسید هو! هغه د اسلام د حریم څخه د دفاع په لاره‌کی د بی دینه استکبارپه گولی ولګید او د شهادت په ویاړلی او رنګینه جاده و رننوت

انا لله وانا الیه راجعون.

روح ئی دی بناد او یاد ئی دی تازه وی.

شهید برادر جنت میر فرزند لاجمیر در قریه کشم مرکز کندز چشم بجهان کشود. او مجاهد نیک سیرت و نیکوکار بودکه جز حاکمیت دین خدا آرمانی نداشت. بالاخره درحالیکه ۲۰ سال داشت به اثر اصابت مرمی BM 13 خصم بزدل و سفاک شربت شهادت را نوشید و به کاروان شهدا پیوست.

شهید برادر محمد قادر فرزند خواجه احمد درقصبهٔ فرجغانی‌کشم بدخشان دیده به‌جهان کشود، دوران کودکی را بانوازش خاصی والدین‌بزرگوارش پشت سرگزاشته غرض آموختن و

بهره و رشدن از چشمه زلال علم و معرفت پا به‌صحن مدرسه دینی نهاد ، و با اشتیاق فراوان علوم متداوله را فرا گرفت. در زمانیکه کودتای ننگین‌ثور به‌وقوع پیوست مدت بعد برادر محمد قادر به جهاد مسلحانه و خون بار آغاز کرد ، موصوف عضو فعال حزب اسلامی دربدخشان به‌شمار می‌رفت. بالاخره در ماه حوت ۱۳٦٤ در یک‌حملهٔ وحشیانه دشمن سفاک و خون‌آشام مورد اصابت مرمی قرار گرفت و خون پاکش زمین را لاله گون ساخت و خود به لاله زار شهدا پیوست . روحش شاد ، یادش مستدام باد.

شهید عبدالصمد

شهید برادر عبدالصمد فرزند بابه جان در جوزای سال ۱۳۳۷ در درهٔ شورک استان ولایت تخار چشم‌بدنیا کشود نامبرده مدت ٦ سال در سنگرهای داغ جهاد دلیرانه

رزمید . بالاخره در برج سنبله ۱۳٦۳ در یک برخورد رویا روی با روسهای سفاک بمقام والای شهادت نائل آمد .

شهید عبدالمجید فرزند اسیرگش در جوزای ۱۳۲۸ دریک خانواده خدا پرست در قریهٔ سری جورستان ولایت تخار پا بجهان هستی نهاد. نامبرده در اوایل ۱۳۵۸ به جهاد مسلحانه آغاز نمود . مدت ها بعد فرماندهی (۳۰۰) نفر مجاهدین مسلح را در حوزهٔ الفتح به عهده داشت، درطول دورهٔ جهاد خویش در اکثریت عملیات سهیم بود بالاخره بتاریخ ٤ - ٥ - ۱۳٦٤ در وقت اداء نماز مغرب از طرف گماشتگان روس به شهادت رسید.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید ملا محمد کامل

شهید برادر ملا محمد کامل فرزند جمعه خان در ولسوالی رستاق ولایت تخار چشم بدنیا کشود . موصوف مدت ٦ سال در سنگر خونین جهاد دلیرانه در مقابل سرخ‌های سیاه رزمید بالاخره در حالیکه ۲٤ بهاری از عمر خویش را عقب گذاشته بود در یک برخورد با روسهای سفاک بتاریخ ٥-۱۰-۱۳٦٤ جام شهادت را به سرکشید و به رفیق اعلی پیوست .

روحش شاد یادش گرامی باد

- شهید یعقوب خان د کریم خان زوی د منگلوسوسی خیلو اولسوالی اوسیدونکی و او په ۱۳۶۳ کال د عقرب په ۱۲ مه نیټه په کمونستی پوسته باندی د حملی په جریان کی شهید شو.

روحئی د بناد وی

شهید حاجی محمد عیش... سوریځ ندارد.

- شهید نواب د حنان زوی د پکتیا ولایت د خواجه خیلو د کلی او سیدونکی په ۱۳۶۴ کال کی وروسته له څلور کاله و سله وال جهاد د بیماری له امله په شهادت ورسید.

یادئی دی تازه او روح ئی دی بناد وی.

- شهید اسدالله د میراکبر زوی د خوست د حسن خیلو د کلی او سیدونکی ؤ او په ډیرو عملیاتو کی فعاله برخه اخستی وه او په ۱۳۶۰ کال د سرطان په میاشت کی په شهادت ورسید.

روحئی د بناد وی

شهید جنت‌گل د پکتیا ولایت د حسن خیلو د جبهی یو زړه ور او توریالی مجاهد ؤ له ډیر جهاد څخه وروسته په ۲۳-۹-۱۳۶۴ نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

خدای(ج) ئی د وبښی

شهید عبدالشکور

شهید برادر عبدالشکور فرزند خانجان در سال ۱۳۳۱ در قریه لکو ولسوالی شکر دره ولایت کابل چشم بدنیا کشود. نامبرده بعد از سه سال جهاد مسلحانه در یک برخورد خونین جام شهادت را به سرکشید و به رفیق اعلی پیوست.

روحش شاد

شهید عبدالبصیر

شهید برادر عبد البصیر فرزند الحاج عبدالرحمن در سال ۱۳۴۴ در قلعهٔ نو خواجه روشنائی ولایت غزنی در یک فامیل متدین و حق پرست چشم بدنیا باز کرد. تحصیلاتش را تا دورهٔ ثانوی در مکتب سید احمد مکی بپایان برد و بارویکار آمدن باند خلق و پرچم پا از مکتب کشیده و سلاح بردست به صف مجاهدان شتافت بالاخره بتاریخ ۳۰-۵-۶۳ در گروپ چریکی تنظیم شهری ولایت غزنی یکجا با «۳۱» تن از همرزمانش جام شهادت را بسرکشید.

روحشان شاد یاد شان‌گرامی باد

- شهید میر مظهرالدین

برادر شهید مظهرالدین فرزند میر قصور شاه در سال ۱۳۴۴ در

خپرولو په ګناه څوک تهدید شوی وی . نه پوازی تهدید نشول بلکی د دربار له هر راز حمائی نه برخه من ؤو .

خو د څوان اسلامی نهضت د تکولو په لاره کی ټول درباریان سرګردانه ؤو ، څکه اسلامی نهضت د هغوی د ناولیو ګټو د تهدید مورچل ؤ ، سازش او جوړی روغی ئی جرم او د فساد خوا ته د حکومت د لا جرئت پیدا کولو وسیله ګڼل څومره چی د مسلمانوځوانانو نهضت تکول کیده ، د ماتی شیشی په څیر ئی پارچی لاپسی تیزیدلی او د فساد په خیټه کی خښیدی .

نړیوال استکبارهم ویری واخیست، د لیونی داؤد په ذریعه ئی کودتا وکړه ، (څکه نور د شاهی نظام له وسه د اسلامی تحریک مخنیوی وتلی وؤ ترڅو د هغه په ذریعه اسلامی تحریک وتکوی، خپل سری او مستبد داؤد هم له هرڅه نه لمړی د اسلامی نهضت په تکولو پیل وکړ .

د هغه موسسین ئی په شهادت ورسول اوګڼ شمیرئی، د پنجروترشا لاس ترلی د روس اجیروګودا ګیانو ته وسپارل .

د روسی کړی په غوږ غلامانو هغوی د زرګونونورو مسلمانانو پشان یوځای د څرخی پله د پولیګون په خونړی زړه کی په وینو ولمبول . د څه لپاره ؟! د همغه یوه هدف لپاره ، ترڅو پدی ملک کی د فساد او دهریت بلنی ته په ارامه ادامه ورکړی . ولی اوس به پوه شوی وی چه د هغوی وژنی څه خطرناك انجام ترشا درلود ، هسی خطرناک چه نن ئی تول کمونیستی بلاک مخنیوی نشی کولی، او تول ملت ئی د همغو مظلومو سورکفنو شهیدانو په خط کی ودراوه ، او نن په لکونو وسلوال مؤمنان د هغه هدف او آرمان د دفاع په سنګر کی نه خوب پیژنی او نه ستړیا .

هوکی ! څه د یادګارونو اوخاطرو نهضت ؤ دی او انشاء الله چه وی به، نژدی ده چه دمظلوم اوځوریدلی بشریت لپاره د نیکمرغی نړی جوړه او د نړیوال کفر او شرک مانی را چپه کړی ، سوبه د دی نهضت (اولسم) پسرلی تولی اسلامی نړی ته د زړه له کومی مبارکی وایو ، او له الله نه ئی د استحکام ، ثبات ، اصالت ساتلو او کامل بری هیله لرو .

ژغورنده نهضت...

روم له طاغوتی قدرتو سره په سپین ډګر دعوی ووهی ... او هیڅوا هم دا په ذهن کی نشو راوستلای چی دا د ایمان په وسله سنبال ځوانان به یو وخت د ظالم او پرغلګر دارونکی خوله ورماته کړی او د تولی اسلامی نړی او مظلومو پرګنو د امید اوتسل قبله به شی ،... خو د خدای (ج) غوښتنه همداسی وه چی یوځل بیا ده کم من فئة قلیلة غلبت فئة کثیرة باذن الله عملی مصداق تول بشریت ته وروښیی ، قافله مخ په وړاندی روانه وه ، د ازمیښت او امتحان دول دول پیچومو او ګرڼګونوئی یو پربل پسی استقبال کاوه او د ایمان په حکم جوړ تولګی هم د زمانی د ازمیښت په ټټی کی لا آبدیده کیده زلمی نیازی د ډیرو نورو مخکښانو سره یوځای خپل نیمه خوا ارمانونه ګورته ورسره یو وړل ، خو د الهی لښکر لاړویان مخ په زیاتیدو شول ، د هاغه لوسړنی ملکوتی «الله اکبر» ناری سره وخت پروخت نوی نوری چیغی هم ملګری شوی ، د وهلوترلو او بندی کولو نه خبره ، اعدام ، عامی وژنی او ... ته ورسیده د اسلامی نهضت ویاړلی مسیر د شهیدانو په وینو او یتیمانو په اوښکو بدرګه شو د تکبیر له ازانکو سره د معصومو یتیمانو کړیکی او د مظلومو شهیدانو د څنګدن سلګی غبرګی شوی ... او دا دی نن اولس کاله وروسته !!!

... درست ملت د هغه په شمول چی پرونږی د نهضت شعارونوته په پسخند ګتل، د عمدی الهی کاروان ترشا دریدلی او له اتوکالو راسی داوراو وینو په منځ کی د نړی له ستر کفری طاقت «روس» سره د وسلهوال جهاد و یاړلی بیرغ پراوړه لری ... د شفق مجلی اداره ، د مجلی لوستونکو ، د عمدی و یاړلی نهضت سرتیرو او مخلصو ساتونکو، اتل مؤمن او وسله پراوړه ملت او د نړی درستو مسلمانانو ته د دغه ستر ژغورنده اسلامی نهضت اولسم پسرلي مبارکی وړاندی کوی اوله خدایه پی پرنړیوال کفر دبرلاسی او بشپړ بریالیتوب غوښتنه کوی .

«والسلام»

« م-زرمش »

Vol. 3 No. 9 جلد سوم شماره ۹ - حمل ۱۳۶۵

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
P.O.

SHAFAQ

شفق



بسم الله الرحمن الرحیم

فرمان خدا

ساصرف عن ایتی الذین یتکبرون فی الارض بغیر الحق : وان یروا کل آیة لا یؤمنوابها وان یروا سبیل الرشد لا یتخذوه سبیلا وان یروسبیل الغی یتخذوه سبیلا ، ذلک بانهم کذبوا بایتنا وکانوا عنها غفلین .

(الاعراف : ۱٤٦)

ترجمه : زود است که از نشانه های قدرت خود کسانی را روگردان کنم که بدون حق در روی زمین کبر پیشه میکنند :

و اگر هرنشانه‌یی را ببینند به آن ایمان نمیآرند و اگر راه رشد و هدایت را بینند آن را بحیث طریقه وسلوک انتخاب نمیکنند و اگر راه سرکشی وگمراهی را دیدند ، آن را اختیار میکنند ؛ این بـه آن سبب که ایشان آیات ما را دروغ پنداشتند و ایشان از آنها غافل بودند .